# د مالِک عیسیٰ مسیح په حقله د حضرت یوحنا زیرے

# پېژندګلو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د حضرت يوحنا زيرے دې دپاره ليکلے شوے وو
چې خلق په حضرت عيسىٰ مسيح ايمان راوړى.
حضرت يوحنا ليکلے وو چې هغه په دولسو رسولانو
کښې يو وو او هغه هم د حضرت عيسىٰ مسيح د ژوند
چشم ديد ګواه وو. حضرت يوحنا انسان داسې پيش
کوى چې په دې دوو کښې د انسان تعلق صرف يو
سره کېدے شى: تيارۀ سره او يا د رڼا سره. دا کِتاب د
حضرت عيسىٰ مسيح هغه اووۀ نښې بيانوى چې دا
حقيقى حضرت عيسىٰ دے او هغه نښې دا دى چې
صحيفې، بپتسمه ورکوونکے، حضرت عيسىٰ په خپله،
پلار خُدائ، د حضرت عيسىٰ معجزې، روح القُدس،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او حضرت یوحنا د دې کِتاب لیکوال په خپله په کښې شامل دے چې، دا خبره ثابته کړی چې حضرت عیسیٰ مسیح یو عام انسان نۀ دے خو د ډېر وخت نه خلقو د هغۀ انتظار کولو، بلکې د خُدائ پاک کلام دے چې په انسانی جسم کښې دې دُنیا ته راغلو. حضرت عیسیٰ مسیح خلقو له د ابدی ژوند دعوت ورکوی د هغه قوت په وسیله کوم چې هغۀ په مرګ لرلو. هغۀ دا ثابته کړه چې هغه ژوند ورکولے شی لکه څنګه چې هغۀ لعزر د مړو نه ژوندے کړو او څنګه چې په خپله د مړو نه ژوندے شو. د حفظ کولو دپاره ۱۴: ۶ آیت ”عیسیٰ هغۀ ته وفرمائیل، زۀ لار یم، زۀ حق یم او


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زۀ ژوندون يم.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د ژوندون کلام

۱ کلام د ازل نه موجود وو او کلام د خُدائ
پاک سره وو او هغه کلام خُدائ پاک وو، ۲ هغه د
ازل نه خُدائ پاک سره وو. ۳ خُدائ پاک هر څیز د
هغهٔ په وسیله پیدا کړل، یو پیدا شوے څیز هم بغېر د
هغهٔ نه پیدا نهٔ شو. ۴ او دغه کلام د ژوند سرچینه وه
او هم دا د ټولو انسانانو دپاره نُور وو. ۵ او نُور په تیارهٔ
کښې ځلیږی او تیارهٔ پرې کله هم غالبه نهٔ شوه. ۶


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک يو سړے راولېږلو چې نوم يې يحيىٰ وو.
٧ هغه د نُور د ګواهۍ دپاره راغلو چې ټول خلق د
هغۀ د پيغام په وسيله ايمان راوړی. ٨ هغه په خپله خو
نُور نۀ وو خو هغه د نُور د ګواهۍ دپاره راغلو. ٩ هغه
حقيقی نُور دُنيا ته راتلونکے وو کوم چې به په هر يو
بنی آدم ځلېږی. ١٠ هغه په خپله هغه دُنيا ته راغلو
کومه چې هغۀ پيدا کړې وه خو دُنيا هغه ونۀ پېژندلو.
١١ هغه خپل قوم ته راغلو خو د هغۀ خپلو خلقو هغه
قبول نۀ کړو. ١٢ خو کومو خلقو چې هغه قبول کړو او
په هغۀ يې ايمان راوړو نو هغۀ هغوئ ته دا حق ورکړو
چې د خُدائ پاک اولاد شی، ١٣ داسې اولاد چې نۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په فطری طور یا په انسانی خواهشاتو بلکې د خُدائ

پاک نه پیدا شو. [۱۴] نو کلام انسان شو او هغه زمونږ

په مینځ کښې اوسېدو او مونږ د هغهٔ لوئی ولیدله، د

واحد او د ابک یو زوئ لوئی، چې د حقیقت او

وفادارئ نه معمور وی ځوک چې د پلار د خوا نه راغلے

وی. [۱۵] یحییٰ د هغهٔ په حقله ګواهی وکړه. هغهٔ په

چغو ووئیل چې، ”دا هغه سړے دے چې ما یې ذکر

کړے وو چې هغه هغه ځوک دے چې زما نه وروستو

به راشی خو زما نه به لوئ وی ځکه چې هغه زما نه

وړاندې موجود وو.“ [۱۶] ځکه چې مونږ ټولو د هغهٔ د

ټولې معمورتیا نه په فضل دپاسه فضل وموندلو. [۱۷]


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې شريعت د موسیٰ په وسيله ورکړے شو خو
فضل او حقيقت د عيسیٰ مسيح په وسيله راغلل. ۱۸
هيچا هم چرې خُدائ پاک نۀ دے ليدلے، بلکې بې
د يکې يو نه، ځوک چې په خپله خُدائ پاک دے،
چې د پلار د سترګو تور دے. هم هغۀ موږ ته خُدائ
پاک ښکاره کړو.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت یحییٰ ګواهی

۱۹ د یحییٰ ګواهی دا وه، چې کله یهودیانو د
یروشلم نه اِمامان او لیویان د دې دپاره ورولېږل چې د
هغهٔ نه تپوس وکړی چې، "تهٔ څوک یې؟" ۲۰ هغهٔ
صفا ووئیل او اِنکار یې ونهٔ کړو چې، "زهٔ مسیح نهٔ
یم." ۲۱ نو هغوئ ترې تپوس وکړو چې، "نو تهٔ بیا
څوک یې؟ تهٔ الیاس یې څهٔ؟" هغهٔ جواب ورکړو چې،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

”نه، زهٔ هغه نهٔ يم.“ ”تهٔ هغه نبى يې څهٔ چې مونږ يې
په اِنتظار کښې يُو؟“ هغهٔ جواب ورکړو چې، ”نه.“
٢٢ بيا هغوئ د هغهٔ نه تپوس وکړو چې، ”نو تهٔ څوک
يې؟ ځکه چې مونږ چا رالېږلى يُو چې هغوئ ته جواب
ورکړُو. نو تهٔ خپل ځان څهٔ ګڼې؟“ ٢٣ هغهٔ ورته جواب
ورکړو چې، ”زهٔ په بيابان کښې د نعرې وهونکى آواز يم
چې نعرې وهى، د مالِک لار نېغه کړئ، لکه چې
يشعياه نبى فرمائيلى وُو.“ ٢٤ بيا هغه کسان چې
فريسيانو رالېږلى وُو ٢٥ د هغهٔ نه يې تپوس وکړو، ”کهٔ
نهٔ تهٔ مسيح يې، نهٔ الياس يې، نهٔ هغه نبى يې، نو تهٔ
بيا ولې بپتسمه ورکوې؟“ ٢٦ يحيىٰ هغوئ ته جواب


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورکړو، ”زۀ په اوبو بپتسمه ورکوم خو ستاسو په مینځ
کښې یو کس ولاړ دے چې تاسو هغه نۀ پېژنئ، ۲۷
هغه هغه څوک دے چې زما نه وروستو راځی او زۀ د
دې جوګه هم نۀ یم چې د هغۀ د پېزار تسمې پرانیزم.“
۲۸ دا ټولې خبرې د بیتِ‌عنیاه په ښار کښې وشوې چې
د اُردن بلې غاړې ته دے، چرته چې یحییٰ بپتسمه
ورکوله.

# د خُدائ پاک ګډُورے


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ بله ورځ يحيىٰ وليدل چې عيسىٰ د هغهٔ طرف
ته راروان دے. هغهٔ وفرمائيل چې، ”وګورئ، د خُدائ
پاک ګډورے شوک چې د دُنيا ګناه په ځان وړی. ۳۰
دا هم هغه دے د چا په حقله چې ما وئيلی وُو چې
زما نه به وروستو يو کس راځی شوک چې زما نه لوئ
دے ځکه چې هغه زما نه مخکښې موجود وو. ۳۱ زهٔ
په خپله هغه نهٔ پېژنم، خو زهٔ په دې وجه د اوبو سره د
بپتسمې ورکولو دپاره راغلم چې هغه بنی اِسرائيلو ته
ښرګند شی.“ ۳۲ بيا يحيىٰ دا ګواهی ورکړله چې، ”ما
روحُ القُدس د آسمان نه لکه د يوې کونترې په شان په
راکوزېدو وليدلو چې د هغهٔ سره پاتې شو. ۳۳ ما په


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپله دے نۀ پیژندو، خو هغه چا چې زۀ یې د اوبو د
بپتسمې ورکولو دپاره رالیږلے یم هغۀ ما ته وفرمائیل، کله
چې زما روح په راکوزیدو وینې او د چا سره پاتې شی
نو هم دا هغه کس دے چې په روحُ القُدس به بپتسمه
ورکوی. ۳۴ ما دا په خپله ولیدل او زۀ په دې ګواهی
کوم چې دا د خُدائ پاک غوره کړے شوے دے.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ اولنی مریدان

۳۵ په بله ورځ یحییٰ د خپلو دوو مریدانو سره ولاړ
وو ۳۶ چې عیسیٰ یې په خوا کښې تېر شو. یحییٰ هغهٔ
ته وکتل او وې فرمائیل چې، ”دا د خُدائ پاک
ګډُورے دے.“ ۳۷ کله چې هغه دوو مریدانو د هغهٔ دا
خبره واورېدله نو عیسیٰ پسې روان شول. ۳۸ عیسیٰ
چې په شا وکتل نو وې لیدل چې دوئ هغهٔ پسې روان


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دی نو هغۀ ترې تپوس وکړو چې، ”تاسو څۀ ګورئ؟“
هغوئ ووئيل، ”اُستاذه، تۀ کوم ځائ پاتې کېږې؟“ ۳۹
عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”راشئ او وګورئ،“ نو
هغوئ د هغۀ سره لاړل او هغه ځائ يې وليدلو چرته
چې هغه پاتې کېدو او هغوئ نوره ورځ د هغۀ سره تېره
کړله چې دا تېر ماسپښين وو. ۴۰ په هغوئ کښې يو
اندرياس د شمعون پطروس ورور وو چا چې هغه خبرې
واورېدې کومې چې يحيیٰ کړې وې نو بيا هغه عیسیٰ
پسې روان شو. ۴۱ اول کار چې هغۀ وکړو هغه دا وو
چې خپل ورور شمعون يې ومونډلو او هغۀ ته يې ووئيل
چې، ”مونږ مسيح مونډلے دے.“ ۴۲ نو هغۀ شمعون


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ له راوستو. عیسیٰ هغهٔ ته وکتل او وې فرمائیل،
”تهٔ د یوحنا زوئ شمعون یې، تا ته به کائفس وئیلے
کیږی، یعني پطروس چې معنیٰ یې ګټ دے.“

# د حضرت عیسیٰ فیلیپوس او نتنی‌ایل رابلل


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ بله ورځ عیسیٰ ګلیل ته د تلو نیت وکړو.
فیلیپوس مخې له ورغلو او ورته یې وفرمائیل چې، ”ما
پسې راځه.“ ۴۴ نو فیلیپوس د اندریاس او پطروس په
شان د بیتِ‌صیدا اوسېدونکے وو. ۴۵ فیلیپوس نتنیٰ‌ایل
له ورغلو او ورته یې ووئیل چې، ”مونږ هغه کس
بیاموندلو د چا ذکر چې د موسیٰ په شریعت کښې
شوے دے او نبیانو کړے دے، چې هغه د ناصرت
عیسیٰ د یوسف زوئ دے.“ ۴۶ نتنیٰ‌ایل په حېرانتیا
تپوس وکړو چې، ”ناصرت، ولې په ناصرت کښې هم
ښۀ څیز پیدا کېدے شی څۀ؟“ فیلیپوس جواب ورکړو،
”راشه او په خپله یې وګوره.“ ۴۷ کله چې عیسیٰ


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نتنیایل په راتلو ولیدلو نو وې فرمائیل، ”دا یو رښتینے
بنی اِسرائیلی دے، په دۀ کښې هیڅ ټګی نشته.“ ۴۸
نتنیایل ترینه تپوس وکړو، ”تا زۀ څنګه وپېژندلم؟“
عیسیٰ ورته جواب ورکړو، ”ما تۀ هغه وخت لیدلے وې
چې تۀ لا د اینځر د ونې لاندې وې او فیلیپوس لا نۀ
وې رابللے.“ ۴۹ بیا نتنیایل ووئیل، ”اُستاذه. تۀ د
خُدائ پاک زوئ یې او تۀ د بنی اِسرائیلو بادشاه یې.“
۵۰ عیسیٰ جواب ورکړو، ”ولې ستا د ایمان د راوړو
دغه وجه ده چې تا ته مې ووئیل چې تۀ مې د اینځر د
ونې لاندې لیدلے وې؟ تۀ به د دې نه هم لوئ لوئ
کارونه ووینې.“ ۵۱ بیا هغۀ وفرمائیل، ”زۀ تاسو ټولو ته


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

رښتيا وايم چې تاسو به آسمان پرانستے ووينئ او په اِبن آدم به د خُدائ پاک د فرښتو بره ښکته تلل راتلل ووينئ.“

# په قانا کښې وادۀ

١ په درېمه ورځ د ګليل په قانا نومې ځائ کښې يو وادۀ وو. د عيسىٰ مور هم هلته وه، ٢ او عيسىٰ او د هغۀ مريدان هم وادۀ ته رابللے شوى وُو. ٣ کله چې مے ختم شُو نو د عيسىٰ مور هغۀ ته ووئيل، ”دوئ سره


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نور مے نشته.“ ۴ عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”مورې،
دا زما کار نۀ دے، زما وخت لا نۀ دے راغلے.“ ۵
خو د هغۀ مور خادِمانو ته ووئیل، ”هر څۀ چې دے
درته فرمائی هغه کوئ.“ ۶ هلته د کاڼی شپږ چاټۍ
خوا په خوا ولاړې وې، دا د یهودیانو د دستور په مطابق
د پاکېدو دپاره وې، په هره یوه کښې د شلو نه تر دیرشو
ګیلنو پورې ځائ وو. ۷ عیسیٰ خادِمانو ته وفرمائیل
چې، ”دا چاټۍ د اوبو نه ډکې کړئ.“ او هغه هغوئ
تر خولې خولې کړې. ۸ بیا هغۀ هغوئ ته وفرمائیل
چې، ”څۀ ترې وباسئ او د مېلمستیا مشر له یې
یوسئ.“ او هغوئ هم دغسې وکړل. ۹ کله چې د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مېلمستیا مشر هغه اوبهٔ وخښبلې نو هغه په میو بدلې
شوې وې. خو هغهٔ ته د دې پته نهٔ وه چې دا د کوم
ځائ نه راغلی دی اګر چې نوکرانو ته پته وه چا چې
اوبهٔ راویستلې وې. نو هغهٔ د وادهٔ زلمے راوغوښتو ١٠ او
هغهٔ ته یې ووئیل، ”هر څوک ښهٔ مے اول ورکوی او
کمزوری تر هغې ساتی ترڅو چې مېلمانهٔ پوره ماړهٔ شوی
نهٔ وی، خو تا خو تر اوسه ښهٔ مے لا ساتلی دی.“ ١١
د ګلیل په قانا کښې د عیسیٰ دا وړومبۍ معجزه او
نښه وه چې عیسیٰ پرې خپله لوئی څرګنده کړه، او د
هغهٔ مریدانو په هغهٔ ایمان راوړو. ١٢ د دې نه پس
عیسیٰ د خپلې مور، ورونړو او مریدانو سره کفرنحُوم


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارېږي ته ښکته لاړو او هغوئ هلته يو څو ورځې ايسار
شول.

# د خُدائ پاک د کور پاکول

١٣ د يهوديانو د فسح د اختر ورځې رانزدې وې نو
عيسىٰ بره يروشلم ته لاړو. ١۴ هلته هغۀ د خُدائ د
کور په دربار کښې د غوَيانو، ګډو او د کونترو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خرڅوونکی او صرافان په خپلو کُرسو ناست وليدل. ۱۵
عيسىٰ د پړی کوړه جوړه کړه او د خُدائ د کور نه يې
سوداګر، ګډې او غوَيان بهر وشړل. هغۀ د صرافانو
تختې نسکورې کړې، او د هغوئ پيسې يې ونوستلې،
۱۶ بيا هغۀ د کونترو خرڅوونکو ته وفرمائيل، ”دا څيزونه
دلته نه اخوا کړئ زما د پلار د کور نه بازار مۀ
جوړَوئ.“ ۱۷ د هغۀ مريدانو ته د صحيفو دا پېشګوئي
رايادە شوه، ”ستا د کور غېرت به ما وسوزوی.“ ۱۸ بيا
يهوديانو عيسىٰ ورټلو او تپوس يې ترې وکړو چې، ”تۀ
مونږ ته داسې څۀ معجزه ښودلے شې چې تۀ دا ثابت
کړې چې دا اختيار تا سره شته؟“ ۱۹ عيسىٰ جواب


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړو چې، ”دا د خُدائ کور ونړوئ او زۀ به يې په
درېو ورځو کښې بيا ودروم.“ ٢٠ بيا يهوديانو ووئيل،
”دا د خُدائ کور خو په شپږ څلوېښت کاله کښې جوړ
شوے دے، او تۀ يې راته په درېو ورځو کښې
ودروې؟“ ٢١ خو د خُدائ د کوم کور ذکر چې عيسىٰ
کولو هغه د دۀ خپل بدن وو. ٢٢ د هغۀ د بيا راژوندی
کېدو نه پس د هغۀ مريدانو ته راياد شول چې هغۀ څۀ
فرمائيلی وُو نو د هغوئ په صحيفو او د عيسىٰ په وينا
يقين راغلو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ د ټولو خلقو د فطرت نه واقف دے

۲۳ کله چې عیسیٰ د فسح د اختر دپاره په یروشلم
کښې ديره وو نو خلقو هغه معجزې ولیدې کومې چې
هغۀ ښکاره کړې او ډېرو خلقو په هغۀ ایمان راوړو. ۲۴
خو عیسیٰ په خپله په هغوئ اعتبار نۀ کولو ځکه چې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ ټول خلق ډېر ښۀ پېژندل. ۲۵ او د بل چا د پوهولو
ضرورت ورته نۀ وو ځکه چې هغه د ټولو خلقو د فطرت
نه ښۀ خبر وو.

# حضرت عيسىٰ او نيکوديموس

۱ په فريسيانو کښې نيکوديموس نومې يو سړے وو
چې د يهوديانو د جرګې مشر وو. ۲ هغه عيسىٰ له د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شپې راغلو او ورته يې ووئيل چې، "اُستاذه، مونږ ته
معلومه ده چې تهٔ هم هغه اُستاذ يې چې خُدائ پاک
رالېږلے يې. ځکه چې هيڅوک هم دا معجزې چې ته
يې کوې نهٔ شى کولے خو کهٔ خُدائ پاک ورسره مل نهٔ
وى." ۳ عيسىٰ جواب ورکړو، "زهٔ تاسو ته رښتيا
وايم، هيڅوک هم د خُدائ پاک بادشاهى نهٔ شى
ليدلے ترڅو چې هغه بيا پيدا نهٔ شى." ۴ نيکوديموس
هغهٔ ته ووئيل، "نو بيا دا څنګه ممکنه ده چې يو سړے
چې بوډا وى نو هغه به بيا څنګه پيدا شى؟ ولې څوک
په دوېم ځل د مور ګېډې ته ورننوتے شى څهٔ او بيا پيدا
کېدے شى؟" ۵ عيسىٰ جواب ورکړو، "زهٔ درته رښتيا


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وایم چې هیڅوک هم د خُدائ پاک بادشاهئ ته نۀ
شی داخلېدے ترڅو چې هغه د اوبو او روحُ القُدس نه
پیدا نۀ شی. ۶ چې د انسان نه پیدا کیږی هغه جسم
دے خو چې د روحُ القُدس نه پیدا کیږی هغه روح
دے. ۷ زۀ چې تاسو ته دا ووایم چې تاسو له بیا پیدا
کېدل په کار دی نو په دې حېرانېږئ مه. ۸ هوا اخوا
دیخوا الوځی. تۀ د دې آواز خو اورې خو دا نۀ شې
وئیلے چې دا د کومې راځی او چرته ځی. نو دغه حال
د هر هغه چا دے چې د روحُ القُدس نه پیدا شوی
دی.“ ۹ نیکودیموس ترې بیا تپوس وکړو، ”دا څنګه
ممکنه ده؟“ ۱۰ عیسیٰ ورته وفرمائیل، ”تۀ د یهودیانو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لوئ اُستاذ يې او د دې نه ناخبره يې؟ ١١ زۀ درته رښتيا
وايم چې مونږ هغه څۀ وايو چې څۀ راته معلوم دى او د
هغې ګواهى ورکوو چې څۀ مو ليدلى دى، خو اوس
هم تاسو زمونږ ګواهى نۀ منئ. ١٢ کۀ چرې تاسو زما
عام خبرې نۀ منئ، نو کۀ زۀ درته آسمانى خبرې وکړم
نو تاسو به يې څنګه ومنئ؟ ١٣ هيڅوک هم چرې
آسمان ته نۀ دے ختلے بې د هغۀ نه څوک چې د
آسمان نه راکوز شو، يعنې اِبن آدم. ١٤ لکه څنګه چې
موسىٰ په بيابان کښې مار په ستنې راځوړند کړے وو نو
اِبن آدم به ضرور هم دغسې وخېژولے شى، ١٥ دې
دپاره چې څوک په هغۀ ايمان ساتى نو هغه به د تل


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندون ومومی. ۱۶ خُدائ پاک د دې دُنیا سره داسې
مینه وکړله چې خپل اېک یو زوئ یې هم ورکړو، نو
څوک هم چې په هغهٔ ایمان راوړی هلاک به نهٔ شی
خو د تل ژوندون به بیا مومی. ۱۷ خُدائ پاک خپل
زوئ دُنیا ته د دُنیا د مجرم کولو دپاره را ونهٔ لېږلو بلکې
د دې دپاره چې د هغهٔ په وسیله دُنیا بچ شی. ۱۸
څوک چې په هغهٔ ایمان راوړی نو هغه به مجرم نهٔ شی
خو چا چې پرې ایمان نهٔ دے راوړے هغه خو د
مخکښې نه مجرم شوے دے ځکه چې هغوئ د
خُدائ پاک د اېک یو زوئ په نوم ایمان رانهٔ وړو. ۱۹
او د مجرم کېدلو سبب دا دے چې دُنیا ته نُور راغلو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو خلق د نُور په ځائ په تيارۀ کښې خوشحاله وُو

ځکه چې د هغوئ کارونه بد وُو. ۲۰ هر څوک چې

بد کار کوى نو د نُور نه نفرت کوى او نُور ته نۀ راځى

د دې دپاره چې د هغوئ بدکارونه ښکاره نۀ شى. ۲۱

خو څوک چې نېک کارونه کوى هغوئ رڼا ته راځى

دپاره د دې چې دا ترې څرګند شى چې د هغوئ

کارونه د خُدائ پاک په وسيله دى.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ او حضرت یحییٰ بپتسمه ورکوونکے

۲۲ پس د دې نه عیسیٰ سره د مریدانو یهودیه ته
لاړو او د هغوئ سره هلته د څۀ وخت دپاره ایسار شو
او خلقو ته یې بپتسمه ورکوله. ۲۳ یحییٰ هم په عینون
کښې بپتسمه ورکوله، کوم چې شالیم ته نزدې دے،


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې په هغه ځائ کښې اوبۀ ډېرې وې، او خلق
هغۀ له راتلل او بپتسمه يې اخستله. ۲۴ دا د يحيیٰ د
قېد کېدو نه وړاندې وُو. ۲۵ د يحيیٰ د ځينې مريدانو د
يو يهودی سره د پاکېدو د دستور په سر بحث وشو. ۲۶
نو هغوئ يحيیٰ له راغلل او ورته يې ووئيل، ”اُستاذه، تا
سره چې د اُردن نه پورې غاړه کوم سړے وو د چا په
حقله چې تا ګواهی کړې وه، هغه هم بپتسمه ورکوی،
هر څوک ورته ورځی.“ ۲۷ يحيیٰ جواب ورکړو چې،
”انسان يو څيز هم تر هغې حاصلولے نۀ شی ترڅو چې
هغۀ ته د آسمان نه مِلاو نۀ شی. ۲۸ تاسو ته ښۀ پته
ده چې ما وئيلی وُو چې زۀ مسيح نۀ يم، زۀ خو د هغۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه وړاندې رالیږلی شوی یم. ۲۹ ناوې د وادهٔ د زلمی
وی او د وادهٔ د زلمی دوست څوک چې ورسره نزدې
ولاړ وی نو هغه چې کله د هغهٔ خبرې اوری، نو د
زلمی په آواز اورېدو ډېر خوشحالیږی. نو دغه شان زما
خوشحالی هم پوره کیږی. ۳۰ هغه به ضرور لوئ او زهٔ
به ورکوټی شم.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# هغه څوک چې له آسمان نه راځی

۳۱ هغه څوک چې د بره نه راځی هغه د ټولو نه
لوئ وی. او څوک چې د زمکې وی هغه د دُنیا سره
تعلق ساتی او خبرې هم دُنیاوی کوی. څوک چې د
آسمان نه راځی هغه په ټولو اوچت وی. ۳۲ هغۀ چې
څۀ لیدلی او اورېدلی دی د هغې ګواهی کوی، خو
هیڅوک هم د هغۀ ګواهی نۀ منی. ۳۳ چا چې د هغۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګواهي ومنله نو هغهٔ د دې خبرې اِقرار وکړو چې خُدائ
پاک رښتینے دے. ۳۴ ځکه څوک چې خُدائ پاک
رالیږلے وی هغه د خُدائ کلام بیانوی، ځکه چې
خُدائ پاک روحُ القُدس بې‌اندازې ورکوی. ۳۵ پلار د
زوئ سره مینه کوی او هغهٔ ته یې ټول اختیار ورکړے
دے. ۳۶ څوک چې په زوئ ایمان ساتی هغه به د تل
ژوندون مالِک وی، خو څوک چې د زوئ نافرمانی
وکړی هغه به دا ژوندون ونهٔ ګوری او تل به د خُدائ
پاک د غضب د لاندې وی.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ او سامري ښځه

١ عیسیٰ په دې خبر وو چې فریسیانو دا خبره
واورېدله چې هغه د یحییٰ نه هم زیات مریدان جوړوی
او بپتسمه ورکوی. ٢ خو په حقیقت کښې عیسیٰ په
خپله نه بلکې مریدانو یې بپتسمه ورکوله. ٣ نو عیسیٰ
یهودیه پرېښودله او یو ځل بیا ګلیل ته لاړو. ٤ خو
هغهٔ ته د سامریه نه تېرېدل ضرور وُو، ٥ نو هغه د


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سامريې سوخار نومې ښار ته راغلو کوم چې هغه پټې ته
نزدې وو چې يعقوب خپل زوئ يوسف له ورکړے وو.
٦ هلته کښې د يعقوب کوهے وو او عيسىٰ د خپل
سفر نه ستړے شوے وو نو هغه کوهى سره کښېناستو،
دا د غرمې وخت وو. ٧ نو بيا يوه سامرى ښځه اوبو
وړلو له راغله او عيسىٰ هغې ته وفرمائيل چې، ”ما له
اوبۀ راکړه.“ ٨ د هغۀ مريدان د خوراک سامان اخستو
دپاره ښار ته تلى وُو. ٩ سامرى ښځې ورته ووئيل
چې، ”تۀ يو يهودى زما غوندې سامرى ښځې نه د
څښلو اوبۀ څنګه غواړې؟“ هغې څکه داسې ووئيل چې
يهوديان د سامريانو سره څۀ نۀ شريکوى. ١٠ عيسىٰ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغې ته جواب ورکړو چې، ”کۀ چرې تا ته د خُدائ
پاک د نعمت پته وے، او بله دا چې څوک چې ستا
نه د څښلو اوبۀ غواړی دا څوک دے، نو تا به د هغۀ
نه دا خواست کړے وو او هغۀ به تا له د ژوندون اوبۀ
درکړې وې.“ ⑪ ښځې هغۀ ته ووئيل چې، ”سړيه، تا
سره خو بوقه هم نشته او دا کوهے ژور دے، نو تۀ به د
کوم ځائ نه ما له د ژوندون اوبۀ راوړې؟ ⑫ ولې تۀ
زمونږ د نيکۀ يعقوب نه لوئ سړے يې څۀ، چا چې
مونږ له دا کوهے راکړو او په خپله يې د زامنو او څاروو
سره د دې نه اوبۀ وڅښلې؟“ ⑬ عيسىٰ هغې ته
وفرمائيل، ”هر هغه څوک چې دا اوبۀ وڅښی هغه به بيا


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هم تږے کيږی. ۱۴ خو چې څوک هغه اوبۀ وڅښی
چې زۀ يې ورکوم هغه به هيڅکله نۀ تږے کيږی. زۀ
چې کومې اوبۀ ورکوم هغه به په هغوئ کښې دننه لکه
يوه چينه وګرځی چې همېشه به بهيږی او چې د تل
ژوندون ورکوی.“ ۱۵ ښځې ورته ووئيل، ”سرِيه، هغه
اوبۀ ما له راکړه نو چې زۀ بيا کله هم تږې نۀ شم او
چې بيا اوبو راويستلو له دلته نۀ راځم.“ ۱۶ عيسیٰ ورته
وفرمائيل، ”لاړه شه، خپل خاوند راوبله او بيا راشه.“
۱۷ هغې جواب ورکړو چې، ”زما خاوند نشته.“ عيسیٰ
هغې ته وفرمائيل، ”تۀ دا رښتيا وائې چې ستا خاوند
نشته، ۱۸ خو حقيقت دا دے چې تا پينځۀ مړونه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړی دی او اوس چې څوک تا سره دے ستا خاوند نۀ
دے. تا چې څۀ ووئيل هغه رښتيا دی.“ ١٩ ښځې
هغۀ تۀ ووئيل، ”مالِکه، ما ته ښکاری چې تۀ نبی يې.
٢٠ زمونږ نيکونو په دې غرۀ عبادت کولو خو تاسو
يهوديان وايئ چې په کوم ځائ کښې مونږ ته د خُدائ
پاک عبادت کول په کار دی هغه په يروشلم کښې
دے.“ ٢١ عيسىٰ هغې ته وفرمائيل، ”خورې، باور وکړه
چې يو وخت داسې راروان دے چې نۀ خو به تاسو د
پلار عبادت په دې غر او نۀ په يروشلم کښې وکړئ.
٢٢ تاسو سامريان د هغۀ عبادت کوئ چې تاسو يې نۀ
پيژنئ، خو مونږ د هغۀ عبادت کوُو چې مونږ يې پيژنو،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې خلاصون د يهوديانو د خوا نه دے. (۲۳) خو
وخت راروان دے بلکې اوس دے چې رښتينى عبادت
کوونکى به پلار ته په روح او په رښتيا سره عبادت
وکړى او پلار هم دغه شان عبادت کوونکى غواړى.
(۲۴) خُدائ پاک روح دے او هر څوک چې د هغۀ
عبادت کوى نو هغه دې هم په روح او په رښتيا د هغۀ
عبادت کوى." (۲۵) ښځې جواب ورکړو، "زۀ پوهېږم
چې مسح کړے شوے، يعنې مسيح راتلونکے دے. هر
کله چې هغه راشى نو هغه به مونږ ته هر څۀ بيان
کړى." (۲۶) عيسىٰ ورته وفرمائيل، "هغه زۀ يم، زۀ چې
تا سره خبرې کوم." (۲۷) په دغه وخت د هغۀ مريدان


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

واپس راغلل او ډېر حېران شول چې هغه يې يوې ښځې

سره په خبرو وکتلو خو په هغوئ کښې يو کس هم ونهٔ

وئيل چې، "تهٔ د دې نه څهٔ غواړې،" يا "تهٔ د دې

سره خبرې ولې کوې؟" (٢٨) نو ښځې بيا خپل منګے

پرېښودو او ښار ته واپس په منډه لاړه او هلته يې خلقو

ته ووئيل چې، (٢٩) "راشئ، يو داسې سړے ووينئ چې

ما څهٔ کړی وُو هغه ټول يې راته ووئيل. کېدے شي

چې دا مسيح وی؟" (٣٠) نو خلق د ښار نه راووتل او د

عيسیٰ طرف ته روان شول. (٣١) په دې دوران کښې

مريدانو په هغهٔ زور ولګولو چې، "اُستاذه، لږ څهٔ

وخوره." (٣٢) خو هغهٔ مريدانو ته وفرمائيل، "ما سره


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

داسې خوراک دے چې تاسو ته يې هيڅ پته نشته.“
۳۳ بيا مريدانو يو تر بله ووئيل چې، ”ولې چا هغهٔ له
خوراک راوړے دے څهٔ؟“ ۳۴ عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل
چې، ”زما خوراک ښنباک دا دے چې زهٔ د هغهٔ رضا
وکړم چا چې زهٔ رالېږلے يم او چې د هغهٔ کار پوره کړم.
۳۵ ولې تاسو دا نهٔ وايئ چې څلور مياشتې نورې دى او
بيا به لَو کېدو شى؟ خو زهٔ تاسو ته دا وايم چې کښېرچاپېره
پټو ته وګورئ چې د لَو کولو دپاره تيار دى. ۳۶ اوس
هم لَوګرى لګيا دى خپله مزدورى اخلى او د تل ژوندون
دپاره مېوه راټولوى د دې دپاره چې کرونکى او لَوګرى
دواړه په شريکه خوشحالى وکړى. ۳۷ څکه دا متل


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

رښتيا دے چې يو يې کَرى او بل يې رېبى. ۳۸ ما
تاسو ولېږلئ چې هغه فصل ورېبئ په کوم چې تاسو څۀ
کړاؤ نۀ دے کړے، نورو محنت وکړو او تاسو د هغوئ
په محنت کښې شريک شوئ.“ ۳۹ د هغه ښار ډېرو
سامريانو په عيسىٰ ايمان راوړو د هغه ښځې د ګواهئ په
وجه چې، ”دۀ ما ته هغه هر څۀ ووئيل څۀ چې ما کله
هم کړى وُو.“ ۴۰ نو کله چې سامريان هغۀ له راغلل
نو مِنت يې ورته وکړو چې مونږ سره پاتې شه، نو هغه
هلته دوه ورځې ايسار شو. ۴۱ او د هغۀ د کلام په وجه
نورو ډېرو خلقو په هغۀ ايمان راوړو. ۴۲ او هغوئ هغه
ښځې ته ووئيل چې، ”مونږ صرف ستا د وينا په وجه په


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دهٔ ایمان نهٔ دے راوړے، ځکه چې مونږ اوس په خپله
د هغهٔ واوريدل او مونږ ته پته ولګېده چې دے په
حقيقت کښې د دُنيا خلاصونکے دے.“

# د يو سرکاری آفسر زوئ روغول

۴۳ کله چې دوه ورځې تېرې شوې نو عيسىٰ د هغه
ځائ نه ګليل ته روان شو. ۴۴ نو عيسىٰ په خپله دا


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائيلی وُو چې يو نبی هم په خپل ښار کښې عزتمند
نۀ وی. ۴۵ نو کله چې هغه ګليل ته راورسېدو نو
ګليليانو د هغۀ هرکلے وکړو ځکه چې هغوئ په دغه
وخت کښې د فسح اختر دپاره په يروشلم کښې موجود
وو او د هغۀ ټول کارونه يې په خپله وليدل. ۴۶ عيسیٰ
يو ځل بيا د ګليل قانا نومې ځائ ته لاړو چرته چې
هغۀ اوبۀ په ميو بدلې کړې وې. هلته يو سرکاری آفسر
وو چې زوئ يې په کفرنحُوم کښې ناجوړه پروت وو.
۴۷ کله چې هغۀ واورېدل چې عيسیٰ د يهوديه نه
ښکته ګليل ته راغلے دے نو هغه ورله ورغلو او مِنت
يې ورته وکړو چې، ”ما سره لاړ شه او زما زوئ جوړ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړه ځکه چې هغه مړګی حال پروت دے.“ ۴۸
عیسیٰ هغهٔ ته وفرمائیل چې، ”ترڅو چې تاسو خلق
لوئ نښې ونهٔ ګورئ نو تر هغې تاسو ایمان نهٔ راوړئ.“
۴۹ هغه آفسر ورته ووئیل چې، ”صاحبه، ما سره
سمدستی لاړ شه زما زوئ مړګی حال دے.“ ۵۰
عیسیٰ ورته وفرمائیل، ”کور ته لاړ شه، ستا زوئ به
ژوندے پاتې شی.“ عیسیٰ چې څهٔ وفرمائیل هغه سړی
پرې یقین وکړو او کور ته روان شو. ۵۱ هغه لا په لاره
وو چې نوکرانو یې ورته خبر راوړو چې، ”زوئ خو دې
په ښهٔ کېدو او ژوندے دے.“ ۵۲ نو هغهٔ تپوس ترېنه
وکړو چې، ”څهٔ وخت هغه په ښهٔ کېدو شو؟“ هغوئ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورته ووئیل چې، ”پرون ماسپښین یوه بجه هغه تبې

پرېښودلو.“ ۵۳ نو پلار یې پوهه شو چې دا هم هغه

وخت وو چې عیسیٰ هغهٔ ته فرمائیلی وُو چې، ”زوئ

به دې ښهٔ شی،“ نو هغهٔ سره د ټول خاندانه پرې ایمان

راوړو. ۵۴ د یهودیه نه ګلیل ته په راتلو دا د عیسیٰ

دویمه معجزه وه.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ یو ګوډ سړی له شفا ورکوی

١ د دې نه پس د یهودیانو اختر وو، او عیسیٰ
یروشلم ته لاړو. ٢ په یروشلم کښې د ګډو د دروازې
سره نزدې یو تالاب دے چې پینځهٔ دالانونه په کښې
ولاړ دی چې په آرامی ژبه کښې ورته بیت‌حسدا وائی.
٣ په دې دالانونو کښې ګڼ معذوران، ړاندهٔ، ګوډ،
شل، پراتهٔ وُو. ٤ ځکه چې وخت په وخت به د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک يوه فرښته دې تالاب ته راکوزيدله او دا اوبۀ
به يې خوځولې او هغه څوک چې به د ټولو نه وړومبے
دې اوبو ته ورکوز شو نو هر څۀ بيمارى چې به يې وه د
هغې نه به روغ شو. ۵ په دغه خلقو کښې يو سړے
وو چې د دوه کم څلوېښتو کالو راسې شل وو. ۶
کله چې عيسىٰ هغه هلته پروت وليدو او د دې نه خبر
شو چې دے د ډيرې مودې راسې بيمار دے، نو هغۀ
ورته وفرمائيل، "تۀ غواړې چې روغ شې؟" ۷ بيمار
سړى جواب ورکړو چې، "صاحبه، زما هيڅوک نشته
چې کله اوبۀ وخوځولے شى نو چې ما دې تالاب ته
ورکوز کړى. او کله چې زۀ اوبو له وررسم نو بل زما نه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مخکښې وردانګلی وی.“ ۸ بیا عیسیٰ هغهٔ ته
وفرمائیل چې، ”پاڅه، خپله بستره دې واخله او ځه.“
۹ سړے سمدستی جوړ شو، او خپله بستره یې
واخستله او روان شو. دا د سبت ورځ وه. ۱۰ نو
یهودیانو هغه روغ کړے شوی سړی ته ووئیل، ”دا د
سبت ورځ ده. په شریعت کښې د سبت په ورځ تا ته د
خپلې بسترې د وړلو اجازت نشته.“ ۱۱ خو هغهٔ جواب
ورکړو چې، ”کوم سړی چې زهٔ روغ کړم هغهٔ ما ته
وفرمائیل چې خپله بستره واخله او ځه.“ ۱۲ هغوئ د
هغهٔ نه تپوس وکړو چې، ”هغه سړے څوک دے چې تا
ته یې ووئیل چې خپله بستره واخله او ځه؟“ ۱۳ خو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه روغ شوی سړی ته دا پته ونهٔ لګېده چې هغه
څوک وو ځکه چې هلته ډېره ګڼه وه او عیسیٰ په ګڼه
کښې غیب شو. ۱۴ د دې نه پس عیسیٰ هغه د
خُدائ په کور کښې ولیدو او ورته یې وفرمائیل، "وګوره،
تهٔ ښهٔ شوے یې. نوره ګناه مهٔ کوه، چې د دې نه درته
زیات تکلیف پېښ نهٔ شی." ۱۵ هغه سړے په مخه
لاړو او د یهودیانو مشرانو ته یې ووئیل چې، "دا هغه
عیسیٰ وو چې ما له یې شفا راکړه." ۱۶ نو په دې
وجه د یهودیانو مشرانو د عیسیٰ زورول شروع کړل ځکه
چې هغهٔ دا کارونه د سبت په ورځ کول. ۱۷ نو عیسیٰ
هغوئ ته جواب ورکړو چې، "زما پلار لا تر اوسه کار


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کوی او زهٔ هم کار کوم.“ ۱۸ په دې وجه يهوديان نور
هم د هغهٔ په مرګ پسې شول ځکه چې يواځې دا نه
چې هغهٔ د سبت حُکم ماتولو بلکې هغهٔ خُدائ پاک
ته خپل پلار وئيلو او خپل ځان يې د خُدائ پاک سره
برابر ګڼلو.

# د زوئ اختيار

۱۹ عيسىٰ هغوئ ته دا وفرمائيل چې، ”زهٔ تاسو ته
رښتيا وايم، زوئ په خپله هيڅ نهٔ شی کولے بې له هغه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار نه چې خپل پلار يې په کولو ليدلے وي. ځکه څۀ
چې پلار کوی هم هغه شان يې زوئ کوی. (۲۰) ځکه
چې پلار د زوئ سره مينه کوی او خپل ټول کارونه ورته
ښکاره کوی. او د دې نه زيات لوئ کارونه به هغه ورته
ښکاره کړی نو تاسو به ورته حيران شئ. (۲۱) لکه څنګه
چې پلار مړی پاڅوی او هغوئ له ژوند ورکوی دغه شان
زوئ هم هر هغه چا له چې غواړی ژوند ورکوی. (۲۲) بيا
دا چې پلار د هيچا عدالت هم نۀ کوی بلکې دا ټول
اختيار يې زوئ ته سپارلے دے (۲۳) نو چې ټول د زوئ
داسې عزت کوی لکه څنګه چې هغوئ د پلار عزت
کوی. څوک چې د زوئ عزت نۀ کوی هغه د هغه پلار


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عزت نۀ کوی چا چې هغه رالیږلے دے. ۲۴ زۀ تاسو ته
رښتیا وایم، هر څوک چې زما خبرو ته غوږ ږدی او په
هغه چا ایمان راوړی چې زۀ یې رالیږلے یم، هغه تل
عُمری ژوندون لری. او هغه به مجرم نۀ شی ځکه چې
هغه د مرګ نه ژوندون ته اوړېدلے دے. ۲۵ زۀ تاسو ته
رښتیا وایم، یو وخت داسې راروان دے بلکې راغلے
دے چې مړی به د خُدائ پاک د زوئ آواز اوری او
چې څوک یې واوری هغه به راژوندی شی. ۲۶ ځکه
څنګه چې پلار په خپله د ژوندون سرچینه دے هم دغه
شان هغۀ خپل زوئ له د ژوندون ورکولو اختیار ورکړے
دے. ۲۷ او هغۀ عیسیٰ ته د عدالت اختیار ورکړو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغه اِبن آدم دے. ۲۸ په دې مۀ حېرانېږئ
ځکه چې داسې وخت راروان دے کله چې هغه ټول
څوک چې په قبرونو کښې دی، هغه به د دۀ آواز واوری
۲۹ او بهر به راوځی. چا چې نېکی کړی وی هغوئ به
د تل ژوندون دپاره راپورته شی او چا چې بد کړی وی
هغوئ به د عدالت دپاره راپورته کړے شی.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ په باب کښې ګواهي

۳۰ زهٔ په خپله هيڅ نهٔ شم کولې. څنګه چې
خُدائ پاک ما ته فرمائي زهٔ هم هغسې فېصله کوم او
زما فېصله درسته وي ځکه چې زهٔ خپله مرضي نه بلکې
د هغه چا مرضي پوره کوم چا چې زهٔ رالېږلے يم. ۳۱
کهٔ چرې زهٔ د خپل ځان په حقله ګواهي وکړم نو زما
ګواهي رښتينې نهٔ ده. ۳۲ بلکې يو بل څوک هم شته


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه زما دپاره ګواهي ورکوي او ما ته پته ده چې د

هغهٔ ګواهي زما په حقله رښتيني ده. ۳۳ تاسو يحيیٰ ته

خپل پيغام وړُونکي ورلېږل او هغهٔ هم د دې حقيقت

ګواهي ورکړه. ۳۴ خو زهٔ د انسان د ګواهۍ محتاج نهٔ

يم خو زهٔ دا دې دپاره وايم چې تاسو بچ شئ. ۳۵

يحيیٰ بلېدونکې ډيوه وه چې رڼا يې کوله او تاسو

غوښتل چې د لږ وخت دپاره د هغهٔ په رڼا کښې

خوشحالي وکړئ. ۳۶ خو زهٔ د يحيیٰ د ګواهۍ نه لويه

ګواهي لرم. هغه کارونه چې زما پلار ما ته حواله کړي

وُو چې زهٔ يې سر ته ورسوم، يعنې هم هغه کارونه چې

زهٔ يې کوم، دا زما ګواهي ورکوي چې پلار زهٔ رالېږلے


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

یم. ۳۷ او پلار چې زۀ يې رالېږلے يم هغۀ په خپله زما
په حقله ګواهی ورکړې ده. تاسو هيڅکله د هغۀ آواز نۀ
دے اورېدلے او نۀ مو د هغۀ صورت ليدلے دے، ۳۸
او نۀ ستاسو په زړۀ کښې د هغۀ د کلام دپاره ځائ
شته ځکه چې تاسو په هغۀ باور نۀ کوئ چا چې هغه
رالېږلے دے. ۳۹ تاسو په غور صحيفې لټوئ ځکه چې
تاسو سوچ کوئ چې په دې کښې به ستاسو د تل
ژوندون وی خو دا صحيفې هم زما په حقله ګواهی
ورکوی. ۴۰ خو بيا هم تاسو د دې نه اِنکار کوئ چې
زما طرف ته راشئ چې د تل ژوندون ومومئ. ۴۱ زۀ د
انسان نه د عزت طمع نۀ کوم. ۴۲ خو زۀ تاسو پېژنم


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې ستاسو په زړُونو کښې د خُدائ پاک مينه نشته.
۴۳ زۀ د خپل پلار په نوم راغلے يم او تاسو ما نۀ قبلوئ
خو کۀ بل څوک په خپله نامه راشى نو تاسو به يې
قبول کړئ. ۴۴ تاسو څنګه د ايمان خاوندان کېدے
شئ کله چې تاسو د يو بل نه د عزت اُميد کوئ او د
هغه عزت لټون نۀ کوئ کوم چې د واحد خُدائ پاک
له طرفه دے؟ ۴۵ دا سوچ مۀ کوئ چې زۀ به د پلار په
وړاندې په تاسو اِلزام ولګوم. په تاسو اِلزام لګونکے
موسىٰ دے، په چا چې تاسو اُميد ساتئ. ۴۶ کۀ چرې
تاسو په موسىٰ ايمان ساتئ نو په ما به يې هم ساتئ
ځکه چې هغۀ زما په حقله ليکلى دى. ۴۷ خو کۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو د موسیٰ په کلام ایمان نۀ ساتئ نو زۀ چې څۀ
وايم تاسو به په هغې څۀ ايمان وساتئ.“

# پينځۀ زره خلق مړول

١ د دې نه پس عيسىٰ د ګليل د درياب بلې
غاړې ته لاړو چې ورته د تبرياس درياب هم وئيلے
کيږی. ٢ او يوه لويه ګڼه ورپسې وه ځکه چې هغوئ
هغه معجزې ليدلې وې چې هغۀ د بيمارانو د شفا دپاره
کولې. ٣ بيا عيسىٰ غرۀ ته پاس وختلو او هلته د خپلو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مریدانو سره کښېناستو. ۴ نو د فسح اختر چې د
یهودیانو لوئ اختر دے رانزدې وو. ۵ بیا چې عیسیٰ
خپلې سترګې اوچتې کړې نو یوه لویه ګڼه یې ولیدله
چې د هغهٔ په طرف رارvانه وه. نو عیسیٰ فیلیپوس ته
وفرمائیل چې، ”مونږ به د دې خلقو دپاره روټئ د کوم
ځائ نه اخلو؟“ ۶ هغهٔ دا سوال د هغهٔ د آزمېښت
دپاره وکړو، ځکه چې هغهٔ ته په خپله دا معلومه وه چې
هغه به څهٔ کوی. ۷ فیلیپوس ورته جواب ورکړو چې،
”د دوو سوو دینارو روټئ به هم کافی نهٔ وی چې د
دې خلقو لږه لږه ورسی.“ ۸ د هغهٔ په مریدانو کښې
اندریاس چې د شمعون پطروس ورور وو، هغهٔ ته ووئیل


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې، ۹ ”دلته يو هلک دے چې ورسره د اوربشو
پينځۀ روټۍ او دوه کبان شته، خو دا د دې دومره ډېرو
خلقو دپاره هيڅ هم نۀ دی.“ ۱۰ عيسیٰ وفرمائيل، ”دا
خلق کښېنوئ.“ هلته په هغه ځائ کښې ښۀ ډېر واښۀ
وُو، نو هغوئ لاندې په زمکه کښېناستل او ټول تقريباً
پينځۀ زره سړی وُو. ۱۱ بيا عيسیٰ روټۍ واخستلې،
شُکر يې پرې وکړو او هغه يې په هغه ناستو خلقو
تقسيم کړې. او هم دغسې يې د کبانو سره وکړل او
هغوئ چې څومره غوښتل نو دومره يې ورکړل. ۱۲ کله
چې ټول ښۀ ماړۀ شول نو هغۀ خپلو مريدانو ته وفرمائيل،
”دا پاتې شوې ټوکړې راټولې کړئ نو چې هيڅ هم درنه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ضائع نۀ شی.“ ۱۳ نو هغوئ هغه راټولې کړې او د
اوربشو د پينځو روټو د هغه پاتې شوو ټوکړو نه کومې
چې خلقو خوړلې وې دولس ټوکرئ ډکې شوې. ۱۴
کله چې خلقو دا معجزه وليدله چې عيسىٰ وکړه هغوئ
يو بل ته ووئيل، ”يقيناً دا هغه پيغمبر دے کوم چې دُنيا
ته راتلونکے وو.“ ۱۵ کله چې عيسىٰ د هغوې په نيت
پوهه شو چې هغوئ هغه خپل بادشاه جوړول غواړی نو
هغه په خپله غرۀ ته واپس لاړو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ د اوبو دپاسه ګرځېدل

۱۶ کله چې ماښام شو نو د عیسیٰ مریدان ښکته د
دریاب غاړې ته لاړل، ۱۷ په کِشتۍ کښې کښېناستل
او د سیند پورې غاړې کفرنحُوم ته روان شول. نو تیارۀ
شوې وه او عیسیٰ لا هغوئ سره مِلاو شوے نۀ وو. ۱۸
په دې دوران کښې د دریاب اوبۀ په اوچتېدو شوې
ځکه چې تېز طوفان راغلو. ۱۹ کله چې هغوئ درې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ثلور ميله کِشتۍ وچلوله نو هغوئ عيسیٰ د اوبو دپاسه
روان وليدو چې د کِشتۍ طرف ته رانزدې کېدو. او
هغوئ يرې واخستل، ٢٠ خو عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل،
”مۀ يرېږئ، دا زۀ يم.“ ٢١ نو بيا هغوئ دا غوښتل چې
عيسیٰ کِشتۍ ته راوخېژی او سمدستی کِشتۍ هغه
غاړې ته ورسېدله چرته چې دوئ روان وُو.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# خلق حضرت عیسیٰ لټوی

٢٢ بل سحر هغه ګڼ خلق چې د دریاب په بله
غاړه ایسار شوی وُو هغوئ ولیدل چې هلته صرف یوه
کِشتۍ وه او د دې نه هم خبر شول چې عیسیٰ د خپلو
مریدانو سره کِشتۍ ته نهٔ وو ختلے، بلکې د هغهٔ مریدان
د هغهٔ نه بغېر تلی وُو. ٢٣ بیا د تبریاس نه نورې کِشتۍ
دېخوا راغلې چرته چې خلقو د مالِک د شُکر ویستلو نه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وروستو روټۍ خوړلې وه. ۲۴ کله چې خلقو وکتل چې
نۀ خو عيسیٰ او نۀ يې مريدان هلته شته نو هغوئ په
کشتو کښې سوارۀ شول او د عيسیٰ په تلاش کښې
پورې غاړه کفرنحُوم ته لاړل.

# حضرت عيسیٰ د ژوندون روټۍ ده

۲۵ کله چې هغوئ هغه د درياب په بله غاړه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ومونډو هغوئ عيسىٰ ته ووئيل، ”اُستاذه، تهٔ کله دلته
راغلې؟“ ٢٦ عيسىٰ جواب ورکړو، ”زهٔ تاسو ته رښتيا
وايم چې تاسو زما تلاش په دې وجه نهٔ کوئ چې تاسو
نښې وکتلې بلکې ځکه چې تاسو روټئ وخوړله او لوږه
مو ختمه شوه. ٢٧ د داسې خوراک دپاره خوارى مهٔ
کوئ چې ختميږى بلکې د هغې روټئ دپاره خوارى
کوئ چې تر ابده پاتې کيږى، او کوم به چې اِبن آدم
تاسو له درکړى. ځکه چې هم په هغهٔ باندې خُدائ
پلار خپل مُهر لګولے دے.“ ٢٨ بيا هغوئ هغهٔ ته
ووئيل چې، ”مونږ له څهٔ کول په کار دى چې د خُدائ
پاک د رضا کارونه وکړُو؟“ ٢٩ عيسىٰ جواب ورکړو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې، ”د خُدائ پاک د رضا کار دا دے چې په هغه
چا ایمان راوړئ چې هغۀ رالیږلے دے.“ (۳۰) نو هغوئ
هغۀ ته ووئیل، ”نو تۀ مونږ ته کومه معجزه ښکاره کوې
چې مونږ یېووینو او په تا ایمان راوړو؟ تۀ څۀ کار
کولے شې؟ (۳۱) لکه چې زمونږ پلار نیکۀ په صحرا
کښې من وخوړل، صحیفې فرمائی چې، موسیٰ هم
هغوئ له د آسمان نه من ورکړل چې وې خوری.“ (۳۲)
بیا عیسیٰ جواب ورکړو، ”زۀ تاسو ته رښتیا وایم چې دا
موسیٰ نۀ وو چې تاسو له یې د آسمان نه من درکړل
بلکې دا زما پلار دے چې تاسو له د آسمان نه حقیقی
روټۍ درکوی. (۳۳) ځکه چې د خُدائ پاک روټۍ هغه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ده چې د آسمان نه راکوزیږی او دُنیا ته ژوندون
ورکوی.“ ۳۴ نو هغوئ هغۀ ته ووئیل، ”مالِکه، مونږ ته
دغه روټۍ همېشه راکوه.“ ۳۵ عیسیٰ هغوئ ته
وفرمائیل، ”زۀ د ژوندون روټۍ یم. څوک چې ما له
راځی هغه به هیڅکله نۀ اوږی کیږی او څوک چې په
ما ایمان راوړی هغه به هیڅکله نۀ تږی کیږی. ۳۶ خو
ما تاسو ته وفرمائیل چې تاسو زۀ لیدلے یم او بیا هم په
ما ایمان نۀ راوړئ. ۳۷ هر څوک چې پلار ما ته حواله
کړی هغه به ما له راشی او څوک چې ما له راشی هغه
به زۀ هیڅکله ونۀ شړم. ۳۸ ځکه چې زۀ د آسمان نه د
خپلې رضا پوره کولو دپاره نۀ یم راکوز شوے بلکې د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د رضا پوره کولو دپاره چا چې زهٔ رالېږلے يم. ۳۹
او دا د هغهٔ رضا ده چا چې زهٔ رالېږلے يم چې زهٔ هغه
ټولو نه يو هم ورک نهٔ کړم څهٔ چې هغهٔ ما له راکړې
دی بلکې د قيامت په ورځ يې راپاڅوم. ۴۰ ځکه چې
دا زما د پلار مرضی ده چې هر څوک چې زوئ ووينی
او په هغهٔ ايمان راوړی، هغه به د ابدی ژوندون خاوند
شی، او زهٔ به هغوئ د قيامت په ورځ بيا راپاڅوم." ۴۱
په دې يهوديان د هغهٔ په حقله وغوريدل ځکه چې
هغهٔ وفرمائيل چې، "زهٔ هغه روټئ يم چې د آسمان نه
راکوزه شوې ده." ۴۲ هغوئ ووئيل، "ولې دا عيسیٰ د
يوسف زوئ نهٔ دے چې مونږ يې مور او پلار پېژنو، نو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا څنګه هغه وائی چې زۀ د آسمان نه راکوز شوے
یم؟“ ۴۳ نو عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”په خپلو کښې
مۀ غوریږئ. ۴۴ څوک هم ما له تر هغې نۀ شی راتلے
ترڅو چې هغه پلار چې زۀ يې رالیږلے یم هغه يې ما ته
راونۀ لیږی، او زۀ به هغه د قیامت په ورځ راپاڅوم. ۴۵
دا د نبیانو په صحیفو کښې لیکلے شوی دی چې
هغوئ ټولو ته به خُدائ پاک تعلیم ورکړی. هر هغه
څوک چې د پلار اوری او د هغۀ نه زده کوی هغه ما له
راځی. ۴۶ هیڅا پلار نۀ دے لیدلے بغیر د هغۀ نه چې
د خُدائ پاک د طرفه دے، صرف هغۀ پلار لیدلے
دے. ۴۷ زۀ تاسو ته رښتیا وایم څوک چې ایمان راوړی


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه د تل ژوندون خاوند دے. ۴۸ زۀ د ژوندون روټئ
يم. ۴۹ ستاسو پلار نيکونو په صحرا کښې من وخوړل
خو هغوئ مړۀ شول. ۵۰ دا هغه روټئ ده چې د آسمان
نه راغلې ده، نو چې څوک دا روټئ وخوری هغه به نۀ
مری. ۵۱ زۀ د ژوندون روټئ يم چې د آسمان نه راکوزه
شوې ده. څوک چې دا روټئ وخوری هغه به تل
ژوندے وی. او کومه روټئ چې زۀ د دُنيا د ژوندون
دپاره ورکوم هغه زما بدن دے.“ ۵۲ بيا د يهوديانو په
مينځ کښې تېز بحث شروع شو، هغوئ ووئيل چې،
”دا سړے خپل بدن مونږ ته خوړلو له څنګه راکولے
شی؟“ ۵۳ نو عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل، ”زۀ تاسو ته


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رښتيا وايم چې ترڅو چې تاسو د اِبن آدم بدن ونۀ

خورئ او د هغۀ وينه ونۀ څښئ نو تاسو کښې به ابدی

ژوندون نۀ وی. ۵۴ څوک چې زما بدن وخوری او زما

وينه وڅښی هغه د تل ژوندون خاوند دے او زۀ به يې د

قيامت په ورځ راپاڅوم. ۵۵ زما بدن حقيقی خوراک

دے او زما وينه حقيقی څښاک دے. ۵۶ څوک چې

زما غوښه خوری او زما وينه څښی هغه په ما کښې او

زۀ په هغۀ کښې اوسېږم. ۵۷ لکه څنګه چې ژوندی

پلار زۀ راولېږلم او زۀ د پلار په وجه ژوندے يم، دغه

شان څوک چې زما بدن وخوری هغوئ به زما په وجه

ژوندی وی. ۵۸ دا هغه روټۍ ده چې د آسمان نه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راکوزه شوې ده او دا د هغه روټۍ په شان نۀ ده چې

ستاسو پلار نیکونو وخوړه او مړۀ شول. خو څوک چې

دا روټۍ وخوری هغه به تل تر تله ژوندی وی.“

# د تل ژوندون کلام

٥٩ عیسیٰ دا خبرې هغه وخت وکړې کله چې هغۀ

په کفرنحُوم کښې په عبادتخانه کښې تعلیم ورکولو. ٦٠

کله چې د هغۀ ډېرو مریدانو دا خبرې واورېدې هغوئ

ووئیل چې، ”دا تعلیم سخت دے، څوک دا منلے


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شی؟“ ۶۱ خو عیسیٰ خبر وو چې د هغهٔ مریدان په
دې حقله غورېږی، نو هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل چې،
”ولې تاسو په دې خفه شوئ؟ ۶۲ بیا به تاسو څهٔ سوچ
کوئ کهٔ تاسو اِبن آدم هغه ځائ ته په ختو ووینئ چرته
چې هغه مخکښې وو؟ ۶۳ دا د خُدائ پاک روح دے
چې ژوند ورکوی، انسانی بدن بېفائدې دے. کومې
خبرې چې ما تاسو ته کړې دی هغه روح او ژوند دے.
۶۴ خو په تاسو کښې ځینې داسې دی چې ایمان نهٔ
راوړی.“ ځکه چې عیسیٰ ته د اول نه دا پته وه چې
څوک به ایمان نهٔ راوړی او څوک به په هغهٔ مُخبری
کوی. ۶۵ بیا هغهٔ وفرمائیل چې، ”دغه وجه ده چې ما


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تاسو ته وفرمائيل چې، هيڅوک هم ما ته نۀ شي راتلے
ترڅو چې پلار ورته دا توفيق ورنۀ کړی.“ ۶۶ په دې
وجه د عيسیٰ ډېر مريدان د هغۀ نه واوړېدل او نور د
هغۀ سره نۀ ګرځېدل. ۶۷ نو عيسیٰ هغه دولسو مريدانو
نه تپوس وکړو، ”ولې تاسو هم ما نه تلل غواړئ؟“ ۶۸
شمعون پطروس ورته جواب ورکړو، ”مالِکه، چا له به
مونږ لاړ شُو؟ تا سره خو د تل ژوندون خبرې دی. ۶۹
زمونږ په تا ايمان دے او زمونږ په دې ايمان دے چې
تۀ د خُدائ پاک قُدوس يې.“ ۷۰ عيسیٰ هغوئ ته
جواب ورکړو، ”ولې ما تاسو دولس واړه غوره کړی نۀ يئ
څۀ؟ خو په تاسو کښې يو کس شيطان دے.“ ۷۱


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د شمعون اِسکریوتی د زوئ یهوداه په حقله خبره

کوله کوم چې په دولسو مریدانو کښې یو وو، او وروستو

یې د عیسیٰ مُخبری هم وکړله.

# د حضرت عیسیٰ د وروڼو بې‌ایمانی

١ د دې نه پس عیسیٰ ګلیل کښې ګېرچاپېره

ګرځېدو. هغهٔ یهودیه ته تلل نهٔ غوښتل ځکه چې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

یهودیانو موقع لټوله چې هغه مړ کړی. ۲ اوس د
یهودیانو د جونګړو اختر هم رانزدې وو. ۳ نو د هغهٔ
خپلو وروڼو هغهٔ ته ووئیل چې، ”تهٔ دا علاقه پرېږده او
یهودیه ته لاړ شه نو چې ستا مریدان هغه لوئ کارونه
چې تهٔ یې کوې، ووینی. ۴ ځکه څوک چې غواړی
چې مشهور شی نو هغه پټ کارونه نهٔ کوی. کهٔ چرې
تهٔ دا کارونه کوې نو دُنیا ته ځان څرګند کړه.“ ۵
ځکه چې د هغهٔ خپلو وروڼو هم په هغهٔ باندې ایمان
نهٔ ساتلو. ۶ عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل چې، ”زما دپاره
مقرر شوے وخت لا نهٔ دے راغلے، خو ستاسو دپاره
هر وخت ټیک دے. ۷ دُنیا تاسو نه نفرت نهٔ شی


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولړے خو زما نه نفرت کوی ځکه چې زۀ د دې
خلاف ګواهی ورکوم چې د دې کارونه بد دی. ٨
تاسو په خپله اختر له لاړ شئ، زۀ دې اختر له نۀ ځم
ځکه چې زما دپاره مقرر شوے وخت لا نۀ دے
راغلے.“ ٩ د دې فرمائيلو نه پس عيسیٰ په ګليل
کښې پاتې شو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ د جونګړو په اختر کښې

۱۰ خو کله چې د عیسیٰ ورونه اختر له لاړل نو
هغه په خپله هم لاړو، خو په ښکاره نه بلکې په پټه.
۱۱ یهودیانو په اختر کښې د هغهٔ لټون کولو او تپوس یې
کولو چې، "عیسیٰ چرته دے؟" ۱۲ او په ګڼه کښې د


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ په حقله ګنګوسے روان وو. چا به وئيل چې،
"هغه ښۀ سړے دے،" خو ځينو به وئيل چې، "نه،
هغه خلق بې‌لارې کوی." ۱۳ خو بيا هم خلقو د هغۀ
په حقله د يهوديانو د يرې په وجه ښکاره هيڅ نۀ شو
وئيلے. ۱۴ کله چې اختر نيم تېر شو نو عيسىٰ د
خُدائ کور ته لاړو او تعليم يې شروع کړو. ۱۵ يهوديان
حېران شول او وې وئيل، "دې سړی څنګه دومره عِلم
حاصل کړو سره د دې چې دۀ خو تعليم نۀ دے
کړے؟" ۱۶ عيسىٰ جواب ورکړو، "زما تعليم زما نۀ
دے، بلکې دا د هغه چا دے چې زۀ يې رالېږلے يم.
۱۷ هر څوک چې غواړی چې د خُدائ پاک رضا پوره


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی، هغه به په دې پوهه شی چې زما تعلیم د خُدائ
د طرفه دے، یا کۀ زۀ د خپل ځان نه تعلیم ورکوم. ۱۸
څوک چې د خپل ځان نه خبرې کوی هغه خپل عزت
غواړی خو څوک چې د خپل رالیږونکی عزت غواړی
هغه رښتینے انسان دے او په هغۀ کښې هیڅ ټګی
نشته. ۱۹ ولې موسیٰ تاسو ته شریعت نۀ وو درکړے؟
خو تاسو کښې یو هم پرې عمل نۀ کوئ. تاسو ولې زما
د مړ کولو موقع ګورئ؟" ۲۰ ګڼې جواب ورکړو، "په تا
پیریان ناست دی. څوک ستا د وژلو کوشش کوی؟"
۲۱ عیسیٰ جواب ورکړو، "ما یوه معجزه وکړله او تاسو
ټول حیران شوئ. ۲۲ خو موسیٰ تاسو ته د سنت کولو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شريعت درکړو، اګر چې دا د موسیٰ د طرف نه نۀ وو
بلکې د پلار نيکۀ د وخت نه راروان وو، او تاسو د
سبت په ورځ ماشوم سنتوئ. (۲۳) کۀ تاسو د سبت په
ورځ ماشوم سنتوئ د دې دپاره چې د موسیٰ شريعت
مات نۀ شی نو بيا تاسو زما نه په دې وجه ولې خفه يئ
چې ما د سبت په ورځ د يو سړی پوره بدن روغ کړو؟
(۲۴) په ظاهری صورت فېصله مۀ کوئ بلکې په اِنصاف
سره فېصله کوئ.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ولې حضرت عيسىٰ مسيح دے؟

(۲۵) په دې باندې د يروشلم څۀ خلقو دا وينا شروع
کړه، ”ولې دا هغه سړے نۀ دے چې هغوئ يې د وژلو
کوشش کوى؟ (۲۶) وګورئ، دے دلته ښکاره په ډاګه
لګيا دے او هغوئ ورته هيڅ نۀ وائى. ولې داسې خو نۀ
ده چې زمونږ مشران په دې خبر شوى وى چې دے په
رښتيا مسيح دے؟ (۲۷) خو مونږ ته پته ده چې دا سړے


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د کوم ځائ دے خو هر کله چې مسيح راشی نو هيچا

ته به پته نۀ وی چې د کوم ځائ دے.“ ۲۸ بيا عيسیٰ

چې کله د خُدائ په کور کښې تعليم ورکولو نو چغه

يې کړه، ”تاسو ما پېژنئ او تاسو ته پته ده چې زۀ د

کوم ځائ يم. خو زۀ په خپله مرضی نۀ يم راغلے. خو

چا چې زۀ رالېږلے يم هغه رښتونے دے، او تاسو هغه نۀ

پېژنئ. ۲۹ زۀ هغه پېژنم ځکه چې زۀ د هغۀ نه راغلے

يم او هغۀ په خپله زۀ رالېږلے يم.“ ۳۰ نو بيا ځينې

مشرانو د هغۀ د نيولو کوشش وکړو خو هيچا هغۀ ته

لاس وانۀ چولو ځکه چې د هغۀ مقرر شوے وخت لا

نۀ وو راغلے. ۳۱ خو په ګڼه کښې ډېرو په هغۀ ايمان


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړو او هغوئ وئيل چې، ”کله چې مسيح راشی نو ولې هغه به د دې کس نه زياتې معجزې وکړی شئ؟“

# د حضرت عيسیٰ د ګرفتارولو دپاره يې محافظان ورولېږل


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٣٢ فريسيانو د عيسیٰ په حقله د خلقو غوريدل
واوريدل، نو مشرانو اِمامانو او فريسيانو، محافظان د هغهٔ
نيولو پسې وليږل. ٣٣ بيا عيسیٰ وفرمائيل چې، ”زهٔ به
څهٔ لږې مودې دپاره تاسو سره يم او بيا به زهٔ هغهٔ له لاړ
شم چا چې زهٔ رالیږلے يم. ٣٤ تاسو به زما لټون کوئ
خو ما به پيدا نهٔ کړئ او چرته چې به زهٔ يم هلته به
تاسو نهٔ شئ راتلے.“ ٣٥ نو يهوديانو يو تر بله ووئيل
چې، ”دے چرته تلل غواړی چې مونږ به يې بيا نهٔ شُو
موندے؟ ولې دے غواړی چې د يونان هغه ښارونو ته
لاړ شی چې په کښې زمونږ خلق اوسيږی، او يونانيانو ته
تعليم ورکړی؟ ٣٦ د هغهٔ د دې وينا نه مطلب څهٔ دے


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې، تاسو به زما لټون کوئ خو ما به پيدا نۀ کړئ او
چرته چې به زۀ يم هلته به تاسو نۀ شئ راتلے؟“

# د ژوندون د اوبو سرچينه

٣٧ د اختر په آخرى او د ټولو نه په لويه ورځ عيسىٰ
ودريدلو او په اوچت آواز يې وفرمائيل، ”کۀ څوک تږے
وى هغه دې ما له راشى، هغه دې وڅښى. ٣٨ او


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې په ما ایمان راوړی، لکه چې صحیفې وائی، د ژوندون د اوبو سیندونه به د هغهٔ نه بهیږی.“ [۳۹]

عیسیٰ دا خبره د هغه روحُ القُدس په حقله وکړه، کوم چې په هغه چا نازلېدونکے وو چا چې په عیسیٰ ایمان راوړو، نو تر دغه وخته روحُ القُدس لا نازل شوے نهٔ وو، ځکه چې عیسیٰ لا خپل جلال ته رسېدلے نهٔ وو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# په خلقو کښې بې‌اتفاقي

۴۰ کله چې هغوئ د هغۀ دا خبرې واورېدې په
ګڼه کښې ځينو ووئيل، ”يقيناً چې دا هغه پېغمبر دے
د چا چې مونږ په طمع يُو.“ ۴۱ چا ووئيل چې، ”دا
مسيح دے،“ او ځينو ووئيل چې، ”ولې مسيح به د
ګليل نه راځی څۀ؟ ۴۲ ولې صحيفې دا نۀ فرمائی چې
مسيح به د داؤد د خاندان او د بيت‌لحم نه راځی، د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه کلی نه چې داؤد په کښې اوسېدلے وو؟“ ۴۳ دغه
شان د عيسىٰ په وجه په خلقو کښې بېاتفاقى پېدا
شوله. ۴۴ په هغوئ کښې ځينو غوښتل چې گرفتار يې
کړی، خو هيچا هم هغۀ ته لاس وانۀ چولو.

# د يهودى حاکمانو بېايمانى

۴۵ بيا محافظان، مشرانو اِمامانو او فريسيانو له


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واپس راغلل او هغوئ ورته ووئيل چې، ”تاسو هغه ولې

ځان سره رانهٔ وستو؟“ ۴۶ محافظانو جواب ورکړو چې،

”هيڅکله هم چا داسې خبرې نهٔ دی کړی څنګه يې

چې دا سړے کوی.“ ۴۷ فريسيانو ورته ووئيل چې،

”ولې هغهٔ تاسو هم بې لارې کړئ څهٔ؟ ۴۸ زمونږ مشرانو

او فريسيانو نه يو هم په هغهٔ ايمان نهٔ دے راوړے. ۴۹

خو دا ګڼه چې په شريعت نهٔ پوهيږی لعنتيان دی.“

۵۰ بيا په هغوئ کښې نيکوديموس نومې يو سړی، يعنې

هغه سړے چې يو ځل مخکښې عيسیٰ له راغلے وو،

هغهٔ ووئيل چې، ۵۱ ”ولې شريعت مونږ ته دا اجازت

راکوی څهٔ چې ترڅو د يو کس بيان په خپله وانهٔ ورُو او


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ ته د خبرو موقع ورنهٔ کړُو نو ولې هغه مونږ مجرم

کولے شُو څهٔ؟" ۵۲ هغوئ جواب ورکړو، "تهٔ هم

ګليلی يې څهٔ؟ وګوره او صحيفې ولوله، نو تهٔ به په

خپله خبر شې چې يو نبی هم د ګليل نه نهٔ راځی."

۵۳ نو بيا ټول خپلو کورونو ته واپس لاړل.

# په زنا کښې نيولے شوې ښځه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ عیسیٰ د زیتون غر ته وختلو. ٢ بله ورځ سحر
وختی هغه بیا د خُدائ کور ته راغلو. ټول خلق ورته
راغونډ شول، او هغه کښېناستو او هغوئ ته یې تعلیم
شروع کړو. ٣ د شرعي عالمانو او فریسیانو یوه ښځه
راوسته څوک چې په زنا کښې نیولې شوې وه. او هغه
یې په خپل مینځ کښې ودروله. ٤ او هغوئ هغۀ ته
ووئیل چې، "اُستاذه، دا ښځه په زنا کولو نیولې شوې
ده. ٥ په شریعت کښې موسیٰ مونږ ته حکم کړے
دے چې داسې ښځې دې سنګسار کړے شی. نو بیا
تاسو په دې حقله څۀ وایئ؟" ٦ هغوئ د هغۀ د
آزمېښت دپاره دا سوال وکړو چې هغوئ د هغۀ خلاف


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ اِلزام پیدا کړی. خو عیسیٰ ټیټ شو او په زمکه یې
په ګوته څۀ ولیکل. ۷ کله چې هغوئ بار بار د هغۀ
نه تپوس کولو نو هغه نېغ ودرېدو او ورته یې وفرمائیل
چې، ”په تاسو کښې به په هغې وړومبے د کاڼی ګزار
هغه څوک کوی چا چې کله هم ګناه نۀ وی کړې.“
۸ او هغه یو ځل بیا ښکته ټیټ شو او په زمکه یې
څۀ ولیکل. ۹ کله چې هغوئ دا خبره واورېده نو
هغوئ یو یو بهر ووتلو، د ټولو نه اول مشران وتښتېدل،
او عیسیٰ د هغې ښځې سره یواځې پاتې شو چې د
هغۀ په وړاندې ولاړه وه. ۱۰ عیسیٰ بیا ودرېدلو هغه
ښځې ته یې وفرمائیل، ”هغوئ چرته لاړل؟ ولې تۀ هیچا


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم مجرمه نۀ کړې څۀ؟“ ۱۱ هغې جواب ورکړو،
”مالِکه، هیچا هم نه.“ او عیسیٰ وفرمائیل، ”او نۀ دې
زۀ مجرمه کوم، ځه لاړه شه، خو بیا کله هم ګناه مۀ
کوه.“

# حضرت عیسیٰ د دُنیا نُور

۱۲ عیسیٰ بیا خلقو ته مخاطب شو او وې فرمائیل،


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”زهٔ د دُنيا نُور يم. څوک چې ما پسې راځى هغه به
هيڅکله په تيارهٔ کښې نهٔ ګرځى بلکې هغه به د
ژوندون رڼا ومومى.“ ۱۳ بيا فريسيانو هغهٔ ته ووئيل، ”تهٔ
د خپل ځان په حق کښې ګواهى کوې خو ستا ګواهى
اعتبارى نهٔ ده.“ ۱۴ عيسىٰ جواب ورکړو، ”زما ګواهى
اعتبارى ده کهٔ څهٔ هم چې زهٔ يې د ځان په حق کښې
ورکوم، ځکه چې زهٔ خبر يم چې زهٔ چرته نه راغلے يم
او چرته روان يم، خو تاسو ته پته نشته چې زهٔ چرته نه
راغلے يم او چرته ځم. ۱۵ تاسو په انسانى بنياد فېصلې
کوئ خو زهٔ د هيچا فېصله نهٔ کوم. ۱۶ خو کهٔ چرې
زهٔ فېصله کوم نو زما فېصله به ټيک وى، ځکه چې زهٔ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

يواځې نۀ يم کله چې فېصله کوم بلکې زۀ او زما پلار
چې زۀ يې رالېږلے يم يې يو ځائ فېصله کوُو. ١٧
ستاسو په خپل شريعت کښې يې دا ليکلی دی چې د
دوو کسانو ګواهی ټيک ده. ١٨ دا زۀ يم چې د خپل
ځان په حقله ګواهی کوم او زما بل ګواه زما پلار دے
چې زۀ يې رالېږلے يم." ١٩ بيا هغوئ ترې تپوس وکړو،
"ستا پلار چرته دے؟" عيسیٰ جواب ورکړو چې،
"تاسو نۀ خو ما پېژنئ او نۀ زما پلار. کۀ چرې تاسو زۀ
پېژندے نو زما پلار به مو هم پېژندو." ٢٠ د خُدائ د
کور په بيت‌المال کښې عيسیٰ دا خبره د تعليم ورکولو
په وخت کښې وکړله، خو هيچا هم هغه ګرفتار نۀ کړو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې د هغهٔ مقرر شوے وخت لا نۀ وو راغلے.

# د حضرت عيسىٰ د خپل مرګ په حقله پيشګوئي

٢١ عيسىٰ يو ځل بيا هغوئ ته وفرمائيل، ”زۀ درنه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځم، او تاسو به ما لټوئ خو تاسو به په خپلو ګناهونو

کښې مړۀ شئ. او چرته چې زۀ ځم هلته تاسو نۀ شئ

راتلے.“ ۲۲ بيا يهوديانو ووئيل، ”ولې دے به خپل ځان

وژنی ځکه چې دے دا وائی، چرته چې زۀ ځم هلته

تاسو نۀ شئ راتلے.“ ۲۳ نو عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل،

”تاسو د دې زمکې خلق يئ او زۀ د آسمان، تاسو د

دې دُنيا اوسېدونکی يئ خو زۀ د دې دُنيا نۀ يم. ۲۴

ځکه ما تاسو ته وفرمائيل چې تاسو به په خپلو ګناهونو

کښې مړۀ شئ. کۀ چرې تاسو په دې باور نۀ کوئ چې

زۀ هغه يم، يعنې، زۀ هم هغه پېغمبر يم نو تاسو به په

خپلو ګناهونو کښې مړۀ شئ.“ ۲۵ هغوئ د هغۀ نه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تپوس وکړو، "ته څوک یې؟" عیسیٰ جواب ورکړو چې،
"زهٔ هم هغه یم چې ما تاسو ته د اول نه وئیلی دی.
٢٦ ما سره ستاسو د مجرمولو او د وئیلو دپاره ډیرې
خبرې دی خو هغه چا چې زهٔ یې رالیږلے یم، رښتینے
دے او څهٔ چې ما د هغهٔ نه اوریدلی دی هغه زهٔ دُنیا
ته وایم." ٢٧ هغوئ په دې پوهه نهٔ شُو چې عیسیٰ
هغوئ ته د خپل پلار په حقله خبرې کولې. ٢٨ نو
عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، "کله چې تاسو اِبن آدم په
سولئ وخیژوئ نو بیا به تاسو پوهه شئ چې زهٔ هغه یم،
او زهٔ په خپل اختیار هیڅ نهٔ کوم خو زهٔ هغه څهٔ وایم،
د څهٔ چې پلار ما له تعلیم راکړے دے. ٢٩ چا چې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زۀ رالېږلے يم هغه ما سره دے. هغۀ زۀ يواځې نۀ يم
پرېښے ځکه زۀ همېشه هغه څۀ کوم چې هغه پرې
راضى کېږى.“ ۳۰ عيسىٰ چې دا خبرې کولې نو ډېرو
پرې ايمان راوړو.

# حقيقت به تاسو آزاد کړى

۳۱ بيا عيسىٰ هغه يهوديانو ته وفرمائيل چا چې په


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ ایمان راوړے وو، ”کهٔ چرې تاسو زما په کلام
عمل کوئ نو تاسو به په رښتيا زما مريدان يئ. ۳۲ او
تاسو به په حقيقت پوهه شئ او حقيقت به تاسو آزاد
کړی.“ ۳۳ هغوئ هغهٔ ته جواب ورکړو چې، ”مونږ د
اِبراهيم اولاد يُو، مونږ چرې هم د چا غلامان شوی نهٔ
يُو. ستا د دې وينا نه څهٔ مطلب دے چې تاسو به آزاد
شئ؟“ ۳۴ عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”زهٔ تاسو ته
رښتيا وايم، هر څوک چې ګناه کوی هغه د ګناه غلام
دے. ۳۵ غلام د يو خاندان فرد ګڼلے نهٔ شی، خو
زوئ همېشه دپاره د خاندان فرد ګڼلے شی. ۳۶ نو کهٔ
چرې زوئ تاسو آزاد کړی نو تاسو به په رښتيا سره آزاد


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

يئ. ۳۷ ما ته پته ده چې تاسو د اِبراهيم اولاد يئ خو
تاسو زما د وژلو موقع ګورئ ځکه چې ستاسو په زړونو
کښې زما د کلام دپاره ځائ نشته. ۳۸ زۀ تاسو ته هغه
وايم څۀ چې ما د پلار په حضور کښې ليدلی دی خو
تاسو په هغې عمل کوئ څۀ چې تاسو د خپل پلار نه
اوريدلی دی.“ ۳۹ هغوئ ورته جواب ورکړو، ”اِبراهيم
زمونږ پلار دے.“ عيسیٰ ورته وفرمائيل، ”کۀ چرې تاسو
د اِبراهيم اولاد وئ نو تاسو به هغه کارونه کول کوم
چې اِبراهيم کول. ۴۰ خو اوس تاسو کوشش کوئ چې
ما ووژنئ ځکه چې ما تاسو ته حقيقت ووئيلو چې ما د
خُدائ پاک نه اوريدلے وو. اِبراهيم هيڅکله هم داسې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ وُو کړی. ۴۱ تاسو د خپل پلار غوندې کارونه
کوئ.“ هغوئ هغهٔ ته ووئيل، ”مونږ حراميان نهٔ يُو، او
خُدائ پاک په خپله زمونږ پلار دے.“ ۴۲ عيسىٰ ورته
وفرمائيل چې، ”کهٔ خُدائ پاک ستاسو پلار وے نو
تاسو به ما سره مينه کولے ځکه چې زهٔ د خُدائ پاک
نه راغلے يم او اوس دلته يم. زهٔ په خپله مرضئ نهٔ يم
راغلے بلکې زهٔ هغهٔ رالېږلے يم. ۴۳ تاسو ته چې زهٔ څهٔ
وايم په هغې ولې نهٔ پوهېږئ؟ دا ځکه چې تاسو زما
کلام قبلولے نهٔ شئ. ۴۴ خو تاسو د خپل پلار اِبليس
بچی يئ او تاسو په خپله خوښه د هغهٔ خواهشونه پوره
کوئ. هغه د اول نه قاتل وو او په حقيقت نهٔ دے ولاړ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې په هغهٔ کښې څهٔ حقيقت نشته. کله چې هغه دروغ وائى نو د خپل فطرت په مطابق يې وائى ځکه چې هغه دروغژن دے او د دروغو پلار دے. ۴۵ نو کله چې زهٔ تاسو ته رښتيا وايم خو تاسو په ما يقين نهٔ کوئ. ۴۶ په تاسو کښې څوک ما د ګناه مجرم ثابتولے شى؟ کهٔ زهٔ رښتيا وايم نو بيا ولې تاسو په ما يقين نهٔ کوئ؟ ۴۷ څوک چې د خُدائ پاک دى هغوئ د خُدائ پاک کلام قبلوى. په کومه وجه چې تاسو ورته توجو نهٔ ورکوئ هغه دا چې تاسو د خُدائ پاک نه نهٔ يئ.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عيسىٰ د حضرت اِبراهيم نه اول موجود وو

۴۸ يهوديانو جواب ورکړو چې، ”ولې زمونږ دا وينا
رښتيا نۀ ده چې تۀ سامرى يې او په تا پيريان ناست
دى؟“ ۴۹ عيسىٰ وفرمائيل چې، ”په ما پيريان نۀ دى
ناست. خو زۀ د خپل پلار عزت کوم خو په دې تاسو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما بې‌عزته کوئ. ۵۰ زۀ خپله لوئی نۀ غواړم بلکې يو
ذات شته چې هغه يې غواړی او هغه صحيح فېصله
کوونکے دے. ۵۱ زۀ تاسو ته رښتيا وايم، کۀ څوک زما
په کلام عمل کوی نو هغه به هيڅکله نۀ مری.“ ۵۲

يهوديانو هغۀ ته ووئيل چې، ”اوس زمونږ پوره يقين دے
چې په تا پيرے ناست دے. اِبراهيم خو وفات دے او
نبيان هم وفات شوی دی او بيا هم تۀ وائې چې، کۀ
څوک زما په کلام عمل وکړی نو هغه به هيڅکله نۀ
مری. ۵۳ ولې تۀ زمونږ د پلار اِبراهيم نه لوئ يې څۀ،
څوک چې وفات دے؟ او نبيان هم وفات شوی دی. نو
تۀ خپل ځان څۀ گڼې؟“ ۵۴ عيسیٰ جواب ورکړو، ”کۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چرې زۀ د خپل ځان لوئی وکړم نو زما لوئی بې‌مطلبه

ده. هغه څوک چې ما له لوئی راکوی هغه زما پلار

دے د چا په حقله چې تاسو وایئ چې هغه زمونږ

خُدائ پاک دے. ۵۵ اګر کۀ تاسو هغه نۀ پېژنئ. خو

زۀ يې پېژنم. کۀ چرې ما دا ووئيل چې زۀ هغه نۀ پېژنم

نو زۀ به هم ستاسو په شان دروغژن يم. خو زۀ هغه

پېژنم او د هغۀ په کلام عمل کوم. ۵۶ ستاسو پلار

اِبراهيم په دې خوشحاله وو چې هغه به زما ورځ ووينی.

او هغۀ دا ورځ وليدله او خوشحاله شو.“ ۵۷ يهوديانو

جواب ورکړو چې، ”تۀ خو لا د پنځوسو کالو هم نۀ

يې، نو اِبراهيم دې څنګه وليدو؟“ ۵۸ عيسیٰ وفرمائيل،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

”زهٔ تاسو ته رښتيا وايم، چې اِبراهيم لا پيدا شوے نهٔ وو
چې زهٔ موجود وم.“ ۵۹ نو په دې هغوئ د عيسىٰ د
ويشتو پسې کاڼى راواخستل خو عيسىٰ خپل ځان په
ډډه کړو او د خُدائ د کور نه ووتو.

# د يو پيدائشى ړوند بينا کول

۱ عيسىٰ چې په لاره تېرېدو نو يو سړے يې وليدو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې پیدائشیړوند وو. ۲ د هغهٔ مریدانو ترې تپوس
وکړو چې، ”اُستاذه، ګناه چا کړې ده، دې سړی او
کهٔ د دهٔ مور او پلار، چې دے ړوند پیدا شوے دے؟“
۳ عیسیٰ جواب ورکړو، ”نهٔ دې سړی او نهٔ د دهٔ مور
پلار ګناه کړې ده. بلکې هغه ځکه ړوند پیدا شو چې
د خُدائ پاک قُدرت په دهٔ کښې څرګند شی. ۴
ترڅو چې لا ورځ ده مونږ له د هغهٔ کار کول په کار
دی چا چې زهٔ رالیږلے یم، شپه راروانه ده چې هیڅوک
په کښې کار نهٔ شی کولے. ۵ نو ترڅو چې زهٔ په دُنیا
کښې یم، زهٔ د دُنیا نُور یم.“ ۶ دې وئیلو سره عیسیٰ
په زمکه وتُوکل او په توکانړو یې خټه جوړه کړله او هغه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې د هغه سرى په سترګو ومږله، ٧ او ورته يې وفرمائيل
چې، "لاړ شه او د سيلوم په تالاب کښې يې
ووينځه." د دې لفظ معنىٰ ده، ليږلے شوے، نو هغه
سړے لاړو، سترګې يې ووينځلې او چې واپس راغلو بينا
شوے وو. ٨ بيا د هغۀ ګاونډيانو او هغه چا چې دے
يې پېژندو چې خير به يې غوښتو، هغوئ ووئيل چې،
"ولې دا هغه سړے نۀ دے چې ناست به وو او خير به
يې غوښتو؟" ٩ ځينو ووئيل، "آو، هم دا هغه سړے
دے،" او نورو ووئيل، "نه، دا د هغۀ په شان دے."
هغۀ په خپله ووئيل چې، "زۀ هم هغه سړے يم." ١٠
هغوئ ترې تپوس وکړو، "نو ستا سترګې څنګه بينا


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شوې؟“ ١١ هغۀ جواب ورکړو، ”يو سړے چې نوم يې
عيسىٰ دے هغۀ خټه جوړه کړه، او زما په سترګو يې
ومږله او راته يې وفرمائيل چې د سيلوم تالاب ته لاړ شه
او وې وينځه. بيا زۀ لاړم او ومې وينځلې او بينا شوم.“
١٢ هغوئ تپوس وکړو چې، ”هغه دے چرته؟“ هغۀ
جواب ورکړو، ”ما ته پته نشته.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د فریسیانو د شفا موندلو په حق کښې تحقیقات

۱۳ هغه سړے چې مخکښې ړوند وو هغوئ
فریسیانو له راوستو. ۱۴ دا د سبت ورځ وه چې عیسیٰ
خټه جوړه کړه او د هغهٔ سترګې یې بینا کړې. ۱۵ بیا
فریسیانو ترې هم تپوسونه شروع کړل چې، ”تهٔ څنګه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بینا شوې؟“ سړی هغوئ ته ووئیل، ”هغۀ زما په سترګو

خټه ومږله، بیا هغه ما ووینځلې او اوس زۀ لیدے شم.“

(۱۶) ځینو فریسیانو ووئیل چې، ”دا سړے د خُدائ پاک

د طرفه نۀ دے ځکه چې د سبت د ورځې احترام نۀ

کوی.“ خو نورو ووئیل چې، ”یو ګناه ګار سړے څنګه

داسې معجزه کولے شی؟“ او په هغوئ کښې اختلاف

پیدا شو. (۱۷) نو هغوئ د هغه ړوند سړی نه بیا تپوس

وکړو چې، ”ستا د هغۀ په حقله څۀ خیال دے؟ ځکه

چې هغۀ ستا سترګې بینا کړې دی.“ هغۀ جواب ورکړو

چې، ”هغه یو نبی دے.“ (۱۸) خو یهودیانو په دې باور

نۀ کولو چې دا سړے ړوند وو او بینا شو ترڅو چې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د هغۀ مور او پلار راوغوښتل ١٩ او تپوس يې ترې
وکړو چې، ”دا ستاسو زوئ دے، څوک چې تاسو وايئ
چې ړوند پيدا شوے وو؟ نو اوس دے څنګه ليدلے
شى؟“ ٢٠ مور او پلار يې جواب ورکړو، ”مونږ ته دا
پته ده چې دا زمونږ زوئ دے او چې دے پيدائشى
ړوند دے. ٢١ خو مونږ ته پته نشته چې دا څنګه دے
اوس ليدلے شى، او نۀ مونږ ته پته شته چې چا د دۀ
سترګې بينا کړې. د دۀ نه تپوس وکړئ، دے زلمے
دے، دے به په خپله حال ووائى.“ ٢٢ د هغۀ مور او
پلار د يرې نه داسې ووئيل ځکه چې هغوئ د يهوديانو
نه ويريدل. نو يهوديانو د مخکښې نه دا فيصله کړې وه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ځوک هم عیسیٰ ومنی چې مسیح دے نو هغه به
د عبادتخانې نه وشړی. ۲۳ هم دغه وجه وه چې مور
پلار يې ووئیل چې هغه زلمے دے، تپوسترې وکړئ.
۲۴ نو بیا په دویم ځل هغوئ هغه سړے راوغوښتو
ځوک چې ړوند وو او ورته يې ووئیل، "خُدائ پاک ته
مخ کړه او رښتیا ووایه، خو مونږ ته دا پته ده چې دا
سړے ګناه ګار دے." ۲۵ هغهٔ جواب ورکړو، "ما ته
پته نشته چې دے ګناه ګار دے او کهٔ نه، خو زهٔ د يو
څيز نه خبر يم، هغه دا چې زهٔ ړوند وم او اوس بینا
شوے يم." ۲۶ هغوئ ترې تپوس وکړو چې، "هغهٔ تا
سره څهٔ وکړل؟ هغهٔ ستا سترګې څنګه بینا کړې؟" ۲۷


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ جواب ورکړو چې، ”ما خو تاسو ته ووئیل خو
تاسو غوږ نهٔ کېښودو، نو تاسو دا بیا ولې اورېدل
غواړئ؟ ولې تاسو هم د هغهٔ مریدان جوړېدل غواړئ
څهٔ؟“ ۲۸ نو بیا هغوئ په کنځلو شول او ورته یې
ووئیل، ”تهٔ د هغهٔ مرید یې، خو مونږ د موسیٰ یُو. ۲۹
مونږ ته پته ده چې خُدائ پاک د موسیٰ سره خبرې
کړې وې خو د دې سړی نه خبر نهٔ یُو چې دے د
کومه راغلے دے.“ ۳۰ سړی جواب ورکړو چې،
”خومره د حېرانتیا خبره ده چې تاسو ته دا پته نشته چې
هغه د کومه راغلے دے، خو بیا هم هغهٔ زما سترګې بینا
کړې. ۳۱ مونږ ته پته ده چې خُدائ پاک د ګناهګارو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ اورى، خو هغه د هغه چا اورى چې د هغهٔ عبادت
کوى او د هغهٔ رضا پوره کوى. (۳۲) د دُنيا د پيدايښت
نه لا چا دا نهٔ دى اوريدلى چې چا د پيدائشى ړوند
سترګې بينا کړې دى. (۳۳) کهٔ دا سړے د خُدائ پاک
د طرفه نهٔ وے نو هغهٔ هيڅ نهٔ شو کولے." (۳۴) هغوئ
ورته ووئيل چې، "تهٔ خو په خپله بلکل ګناه ګار پيدا
شوے يې او اوس مونږ ته د تعليم راکولو کوشش
کوې؟" نو بيا هغوئ هغه د عبادتخانې نه وشړلو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# روحاني ړوندتوب

۳۵ کله چې عيسىٰ په دې خبر شو چې هغوئ
هغه شړلے دے، نو عيسىٰ هغه پيدا کړو او تپوس يې
ترې وکړو، "ستا په اِبن آدم ايمان شته؟" ۳۶ سړى
جواب ورکړو، "مالِکه، ما ته ووايه هغه څوک دے نو
چې زۀ په هغۀ ايمان راوړم." ۳۷ عيسىٰ هغۀ ته وفرمائيل
چې، "تا هغه وليدو، څوک چې تا سره خبرې کوى هم
هغه دے." ۳۸ هغۀ ووئيل، "مالِکه، زما پرې ايمان
دے." او هغه ورته په سجده پرېوتو. ۳۹ عيسىٰ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائیل چې، ”زهٔ دې دُنیا ته د عدالت دپاره راغلے يم
چې ړاندهٔ بينا شى او څوک چې ځان بينا ګڼى هغه
ړاندهٔ شى.“ ۴۰ ځينى فريسيان چې د هغهٔ سره نزدې
ولاړ وُو د هغهٔ دا خبرې يې واورېدلې او تپوس يې ترې
وکړو، ”ولې مونږ ړاندهٔ يُو څهٔ؟“ ۴۱ عيسىٰ هغوئ ته
وفرمائيل، ”کهٔ چرې تاسو ړاندهٔ وے نو ستاسو ګناه به
نهٔ وه خو اوس چې تاسو دا وايئ چې مونږ بينا يُو، نو په
دې تاسو ګناه ګار پاتې شوئ.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ګډو د شپون مِثال

١ ”زهٔ تاسو ته رښتيا وايم چې هر څوک چې د
ګډو شپول ته په دروازې نهٔ ورننوځی خو په بله لاره
وراوړی هغه غل او ډاکو دے. ٢ خو کوم سړے چې
په دروازه ورننوځی هغه د ګډو شپونکے دے. ٣
څوکيدار هغهٔ ته دروازه کولاووی، او ګډې د هغهٔ آواز
اوری او هغه خپلې ګډې په نوم رابلی او هغوئ په هغهٔ
پسې روانې وی. ٤ کله چې هغه خپلې ټولې ګډې
رابهر کړې نو هغه ترې وړاندې ځی او ګډې ورپسې،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغوئ د هغهٔ آواز پيژنی. ۵ هغوئ به نا آشنا
سړی پسې چرې هم نهٔ ځی. بلکې هغوئ به د هغهٔ نه
وتښتی ځکه چې هغوئ د نا آشنا سړی آواز نهٔ پيژنی.“
۶ عيسیٰ هغوئ ته دا مِثال ووئيلو خو هغوئ په دې
پوهه نهٔ شول چې د هغهٔ د دې نه مطلب څهٔ وو.

# حضرت عيسیٰ ښهٔ شپونکے دے


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۷ نو عیسیٰ هغوئ ته بیا وفرمائیل چې، ”زهٔ تاسو
ته رښتیا وایم چې زهٔ د ګډو دپاره دروازه یم. ۸ هغوئ
ټول چې زما نه مخکښې راغلی وُو غلهٔ او ډاکوان وُو،
خو ګډو هغوئ ته غوږ ونهٔ نیولو. ۹ زهٔ دروازه یم.
څوک چې زما په وسیله ننوځی هغه به بچ شی. هغه به
دننه بهر تلے راتلے شی او د څرن ځائ به مومی. ۱۰
غل صرف د غلا د قتل او د تباهئ دپاره راځی خو زهٔ
دې له راغلے یم چې خلق ژوندون حاصل کړی او په
مکمل ډول پُرسکونه وی. ۱۱ زهٔ ښهٔ شپونکے یم او ښهٔ
شپونکے د ګډو دپاره خپل سر ورکوی. ۱۲ خو مزدور
چې نهٔ شپون وی او نهٔ يې ګډې خپلې وی، کله چې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه لیوهٔ په راتلو ووینی نو ګډې په ځائ پرېږدی او
وتښتی. لیوهٔ رمه راګېره کړی او ګډې خورې ورې کړی.
١٣ هغه ځکه تښتی چې مزدور دے او د ګډو هیڅ
پرواه نهٔ کوی. ١٤ زهٔ ښهٔ شپون یم. زهٔ خپلې ګډې
پېژنم او زما ګډې ما پېژنی، ١٥ څنګه چې ما پلار
پېژنی او زهٔ پلار پېژنم، او زهٔ خپل ځان د ګډو دپاره
قربانوم. ١٦ زما نورې ګډې هم شته چې په دې شپول
کښې نشته، زهٔ به هغوئ هم ضرور دلته راولم. هغوئ
به زما آواز اوری، او بیا به یوه رمه وی او شپونکے به یې
هم یو وی. ١٧ په دې وجه پلار ما سره مینه کوی
ځکه چې زهٔ خپل ځان قربانوم د دې دپاره چې دا بیا


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وموهم. ١٨ دا زما نه څوک نۀ اخلی، خو زۀ دا په خپله
مرضئ قربانوم. دا زما اختیار دے چې ځان قربان کړم او
دا مې هم اختیار دے چې دا زۀ بیا ووموم. دا حُکم ما
ته خپل پلار راکړے دے." ١٩ د دې خبرو په وجه بیا
په یهودیانو کښې بې‌اتفاقی راغله. ٢٠ په هغوئ کښې
ډېرو وئیل چې، "په دۀ پیریان ناست دی او دے پاګل
دے، ولې تاسو دۀ ته غوږ ږدئ؟" ٢١ خو نورو وئیل
چې، "په چا چې پیریان ناست وی هغه داسې خبرې
نۀ شی کولے. ولې پیرے د ړوند سترګې روغولے شی
څۀ؟"


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د یهودیانو د حضرت عیسیٰ نه اِنکار

۲۲ دا د ژمی ورځې وې او په یروشلم کښې د
خُدائ د کور د وقف کېدو اختر وو. ۲۳ او عیسیٰ د
خُدائ په کور کښې د سلیمان په برانډه کښې
ګرځېدو. ۲۴ یهودیان د هغهٔ نه راچاپېره شول او ورته یې
ووئیل، ”ترڅو پورې به تهٔ مونږ په شک کښې ساتې؟
کهٔ تهٔ مسیح یې نو مونږ ته صفا صفا ووایه.“ ۲۵


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”ما تاسو ته ووئیل خو تاسو
پرې یقین نهٔ کوئ. زهٔ چې کوم کارونه د خپل پلار په
نوم کوم، هغه زما ګواه دی. ٢٦ خو تاسو پرې یقین نهٔ
کوئ ځکه چې تاسو زما ګډې نهٔ یئ. ٢٧ زما ګډې
زما آواز اوری، زهٔ هغوئ پېژنم او هغوئ ما پسې راځی.
٢٨ زهٔ هغوئ له د تل ژوندون ورکوم او هغوئ به
هیڅکله هم هلاک نهٔ شی او هیڅوک به یې هم زما د
لاس نه ونهٔ شوکوی. ٢٩ زما پلار چې ما ته هغوئ
حواله کړی دی هغه د هر څهٔ نه زورَور دے او هیڅ
څوک دا د پلار د لاس نه نهٔ شی شوکولے. ٣٠ زهٔ او
زما پلار یو یُو.“ ٣١ بیا یهودیانو عیسیٰ پسې کانړی


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

راوخستل چې پرې وې ولی، ۳۲ خو عیسیٰ هغوئ ته
وفرمائيل چې، ”ما تاسو ته د پلار له طرفه ډېر نېک
کارونه وښودل. نو تاسو ما د کوم کار په وجه
سنګساروئ؟“ ۳۳ یهودیانو ورله جواب ورکړو چې،
”مونږ تا د څۀ نېک کار په وجه نۀ سنګساروو خو د
کُفر په سبب، ځکه چې تۀ خو صرف انسان يې او د
خُدايئ دعویٰ کوې.“ ۳۴ عیسیٰ جواب ورکړو چې،
”ولې ستاسو په شريعت کښې دا نۀ دی ليکلے شوی
چې، ”ما وفرمائيل چې تاسو خُدايان يئ؟“ ۳۵ هغه
خلق خُدايان بللے کېدل چا ته چې د خُدائ پاک
کلام راغلے وو، خو مونږ په دې پوهېږو چې صحيفې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدلېدے نۀ شی. ۳۶ ولې تاسو دا وئيلے شئ چې
ښوک چې پلار مقدس کړے دے او دُنيا ته يې رالېږلے
دے، هغه کُفر کوی ځکه چې ما وفرمائيل چې زۀ د
خُدائ پاک زوئ يم؟ ۳۷ کۀ چرې زۀ د خپل پلار
کارونه نۀ کوم، نو په ما ايمان مۀ راوړئ. ۳۸ خو کۀ زۀ
يې کوم، کۀ ښۀ هم تاسو په ما ايمان نۀ راوړئ، نو زما
په کارونو ايمان راوړئ د دې دپاره چې تاسو ته پته
ولګی او پوهه شئ چې پلار په ما کښې دے او زۀ په
پلار کښې يم.“ ۳۹ نو هغوئ يو ځلې بيا د هغۀ د
نيولو کوشش وکړو خو هغه د هغوئ د لاس نه ووتو.
۴۰ عيسیٰ بيا د اُردن د سيند پورې غاړه هغه ځائ ته


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لاړو چرته چې به یحییٰ اول بپتسمه ورکوله. او هغه
هلته پاتې شو. ۴۱ ګڼ خلق ورله راغلل او هغوئ وئیل
چې، ”یحییٰ مونږ ته یوه معجزه هم نۀ وه ښکاره کړې،
خو هغۀ چې څۀ د دې سړی په حقله وئیلی وُو هغه
رښتیا دی.“ ۴۲ او په هغه ځائ کښې ډېرو خلقو په
عیسیٰ ایمان راوړلو.

# د لعزر مرګ

۱ نو اوس لعزر نومې سړے ناجوړه وو، چې د


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بیتِ‌عنیاه وو کوم چې د مریمې او د هغې د خور مرتا
کلے وو. ٢ دا د هغه مریم وړور لعزر ناجوړه وو چا
چې په مالِک عطر اچولی ؤو او د هغهٔ پښې یې په
خپلو وېښتو وچې کړې وې. ٣ نو خوېندو یې عیسیٰ
له خبر ورولیږلو چې، ”مالِکه، چا سره چې تهٔ مینه
کوې هغه بیمار دے.“ ۴ خو کله چې عیسیٰ دا
واورېدل نو وې وفرمائیل، ”دا بیماری د مرګ نهٔ ده، دا
خو د خُدائ پاک د جلال ښرګندولو دپاره ده نو چې د
خُدائ پاک زوئ د دې په وسیله جلال ومومی.“ ۵
اګر چې عیسیٰ د مرتا، او د هغې خور او لعزر سره
مینه کوله، ۶ خو چې هغهٔ د لعزر د بیمارئ واورېدل


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه دوه ورځې نور هم په هغه ځائ کښې ایسار
شو. ٧ بیا د دې نه پس عیسیٰ خپلو مریدانو ته
وفرمائیل، ”راځئ چې یهودیه ته واپس لاړ شُو.“ ٨
مریدانو ورته ووئیل چې، ”اُستاذه، څۀ لږ وخت
مخکښې یهودیانو ستا سنګسارول غوښتل، او تۀ بیا
هلته ځې څۀ؟“ ٩ عیسیٰ جواب ورکړو، ”ولې په ورځ
کښې دولس ګینټې رڼا نۀ وی څۀ؟ هر څوک چې د
ورځې ګرځی تیندک نۀ خوری ځکه چې هغوئ د دې
دُنیا رڼا وینی. ١٠ خو څوک چې د شپې ګرځی نو
تیندک به خوری ځکه چې هغۀ سره رڼا نشته.“ ١١ د
دې وئیلو نه پس عیسیٰ وفرمائیل چې، ”زمونږ دوست


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لعزر اوده پروت دے خو زۀ ورځم چې راويښ يې کړم.“
۱۲ مريدانو هغۀ ته ووئيل، ”مالِکه، کۀ چرې هغه اوده
وى نو هغه به روغ شى.“ ۱۳ عيسىٰ د هغۀ د مرګ
خبره کوله خو د هغوئ خيال وو چې ګنې دے د
فطرى اودۀ کېدو خبره کوى. ۱۴ بيا عيسىٰ هغوئ ته
صفا وفرمائيل، ”لعزر مړ دے، ۱۵ نو ستاسو دپاره دا
ښۀ ده چې زۀ هلته نۀ وم نو چې تاسو ايمان راوړئ. خو
راځئ چې هغۀ له ورشُو.“ ۱۶ بيا توما چې برغونے ورته
وائى، هغۀ نورو مريدانو ته ووئيل، ”راځئ چې مونږ هم
لاړ شُو چې د هغۀ سره مړۀ شُو.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د لعزر بیا ژوندی کېدل

۱۷ کله چې عیسیٰ ورسېدو نو خبر شو چې څلور
ورځې مخکښې لعزر دفن شوے دے. ۱۸ بیتِ‌عنیاه د
یروشلم نه څۀ دوه میله لرې وه ۱۹ او ډېر یهودیان مرتا
او مریمې ته د هغوئ د ورور غمرازئ له راغلی وُو. ۲۰
کله چې مرتا د عیسیٰ د راتلو نه خبر شوه نو هغۀ سره
مِلاوېدو له ورغله، خو مریم په کور کښې پاتې شوه.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ مرتا عيسىٰ ته ووئيل، ”مالِکه، کۀ تۀ دلته وے نو
زما ورور به مړ شوے نۀ وو. ۲۲ خو زۀ اوس هم پوهېږم
چې کۀ تۀ د خُدائ پاک نه هر څۀ وغواړې نو خُدائ
پاک به يې درکړی.“ ۲۳ عيسىٰ هغې ته وفرمائيل چې،
”ستا ورور به بيا راژوندے شی.“ ۲۴ مرتا هغۀ ته
ووئيل، ”خو ما ته پته ده چې د قيامت په ورځ به هغه
بيا راژوندے شی.“ ۲۵ عيسىٰ هغې ته وفرمائيل، ”زۀ
قيامت او ژوندون يم. څوک چې په ما ايمان ساتی کۀ
هغه مړ هم شی نو هغه به ژوندے وی، ۲۶ او څوک
چې ژوندے دے او په ما ايمان لری هغه به هيڅکله
هم مړ نۀ شی. آيا ستا په دې يقين دے؟“ ۲۷ هغې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ ته ووئیل، "آو، مالِکه، زما په دې ایمان دے چې
تهٔ مسیح یې، د خُدائ پاک زوئ، څوک چې دُنیا ته
راتلونکے دے." ۲۸ کله چې هغې دا ووئیل، نو هغه
واپس لاړه او خپله خور مریم یې راوبلله، او په پټه یې
ورته ووئیل، "اُستاذ دلته دے او هغه تا غواړی." ۲۹
کله چې مریم دا واورېدل نو سمدستی پاڅېده او
عیسیٰ له ورغله. ۳۰ خو عیسیٰ لا کلی ته نهٔ وو
رارسېدلے او لا په هغه ځائ کښې وو چرته چې مرتا
هغهٔ سره مِلاو شوه. ۳۱ کوم یهودیان چې د مریم سره
غمرازۍ دپاره کور کښې وُو، نو چې هغوئ ولیدل چې
هغه زر پاڅېده او بهر لاړه نو هغوئ ورپسې روان شول،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغوئ دا ګڼل چې قبر له روانه ده چې پرې
وژاړى. ۳۲ کله چې مريم هغه ځائ له ورغله چرته چې
عيسىٰ وو نو د هغهٔ په ليدو سره په پښنو ورته پرېوتله او
هغهٔ ته يې ووئيل، ”اے مالِکه، کهٔ چرې تهٔ دلته وے
نو زما ورور به مړ شوے نهٔ وو.“ ۳۳ کله چې عيسىٰ
مريم او ورسره يهوديان په ژړا وليدل نو هغهٔ يو سوړ
اسويلے وکړو او ډېر زهير شو. ۳۴ هغهٔ تپوس وکړو چې،
”هغه تاسو کوم ځائ دفن کړے دے؟“ هغوئ جواب
ورکړو، ”مالِکه، راشه او وې ګوره.“ ۳۵ عيسىٰ په ژړا
شو. ۳۶ يهوديانو ووئيل چې، ”وګوره د دهٔ هغهٔ سره
څومره مينه وه.“ ۳۷ خو ځينو ووئيل چې، ”ولې دې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سړی چا چې د هغه ړوند سړی سترګې بينا کړې وې دا
نۀ شو کولے چې لعزر يې د مرګ نه بچ کړے وے؟“
38 عيسیٰ بيا سوړ اسويلے وکړو، او قبر له راغے. دا يو
غار وو چې مخې ته يې ګټه اېښودلے شوې وه. 39
عيسیٰ وفرمائيل، ”دا ګټه لرې کړئ.“ مرتا، د مړ سړی
خور، هغۀ ته ووئيل، ”مالِکه، اوس خو به يې بوئ
کړے وی ځکه چې د دۀ د مرګ خو څلور ورځې شوې
دی.“ 40 عيسیٰ هغې ته وفرمائيل، ”ولې ما تاسو ته دا
نۀ وُو وئيلی څۀ، چې کۀ چرې تاسو ايمان لرئ نو تاسو
به د خُدائ پاک لوئی ووينئ؟“ 41 نو هغوئ ګټه لرې
کړله. بيا عيسیٰ پورته وکتل او وې فرمائيل، ”پلاره، زۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا شُکر کوم چې تا زما دُعا واورېدله. ۴۲ ما ته پته ده چې ته همېشه زما اورې، خو ما د دې حاضرو خلقو دپاره سوال وکړو نو چې د دوئ دا باور وشی چې زهٔ تا رالېږلے یم.“ ۴۳ بیا کله چې هغهٔ دا وفرمائیل نو هغهٔ په اوچت آواز چغه کړه، ”لعزره، بهر راوځه.“ ۴۴ نو مړ سړے بهر راووتو، د هغهٔ لاس او پښې د کتان په کفن کښې تړلے شوی وُو او مخ یې په تهوکی کښې انغښتے شوے وو. عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، ”د دهٔ نه کفن لرې کړئ او پرې یې ږدئ چې ځی.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عيسىٰ د مرګ سازش

۴۵ ډېر خلق چې د مريم سره قبر له راغلی وُو
هغوئ چې هغه څۀ وليدل کوم چې عيسىٰ وکړل نو په
هغۀ يې ايمان راوړو. ۴۶ خو په هغوئ کښې ځينې
فريسيانو له ورغلل او هغه څۀ يې ورته ووئيل څۀ چې
عيسىٰ کړی وُو. ۴۷ نو مشرانو اِمامانو او فريسيانو يوه
جرګه راوبلله او وې وئيل چې، ”مونږ ته څۀ کول په کار


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی؟ ځکه چې دا سړے خو ډېرې معجزې ښکاره
کوی. ۴۸ کهٔ مونږ دے دغه شان آزاد پرېږدو نو ټول
خلق به په دهٔ ایمان راوړی، او بیا به رومیان راشی او
زمونږ ټول قوم او د خُدائ کور به تباه کړی." ۴۹ خو
په دوئ کښې یو تن چې نوم یې کائفس وو څوک چې
په دغه کال د ټولو نه مشر اِمام وو، هغوئ ته ووئیل،
"تاسو په هیڅ نهٔ پوهېږئ، ۵۰ تاسو په دې نهٔ پوهېږئ
چې ستاسو دپاره دا غوره ده چې د قوم دپاره دې یو
سړے مړ کړے شی، نه چې ټول قوم تباه او برباد
شی." ۵۱ هغهٔ دا د خپله ځانه ونهٔ وئیل، بلکې د هغه
کال د مشر اِمام په حیثیت یې دا پیشګوئې وکړله چې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عيسیٰ به د قوم دپاره قربان شی، ۵۲ او نۀ صرف د قوم
دپاره، بلکې د دې دپاره چې په ټوله دُنيا کښې د
خُدائ پاک خوارۀ وارۀ بچی رايوځائ کړی. ۵۳ نو د
هم هغه ورځې نه پس هغوئ د هغۀ د مرګ منصوبه
جوړه کړه. ۵۴ نو په دې وجه عيسیٰ نور د يهوديانو په
مينځ کښې آزاد نۀ ګرځېدو بلکې د هغه ځائ نه يو
کلی ته لاړو چې نوم يې اِفرائيم وو چې د صحرا سره
نزدې مُلک کښې وو او هغه هلته د خپلو مريدانو سره
پاتې شو. ۵۵ اوس د يهوديانو د فسح اختر رانزدې وو
او ډېر خلق د کلی نه يروشلم ته د فسح د اختر نه
مخکښې لاړل چې خپل ځانونه مقدس کړی. ۵۶


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ عیسیٰ لټولو او کله چې هغوئ د خُدائ په کور
کښې ودرېدل نو د يو بل نه يې تپوس کولو، ”څۀ مو
خيال دے؟ ولې هغه به اختر له رانۀ شى څۀ؟“ (۵۷) په
دې وخت کښې مشرانو اِمامانو او فريسيانو دا حُکم
ورکړے وو چې چا د عیسیٰ پته ولګوله چې چرته دے
نو دوئ دې پرې خبر کړى چې هغه ګرفتار کړى.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ په بیتِ‌عنیاه کښې په تېلو مسح کړے شو

١ د فسح د اختر نه شپږ ورځې مخکښې عیسیٰ
بیتِ‌عنیاه ته راغلے چرته چې د لعزر کور وو، څوک چې
هغهٔ د مړو نه بیا ژوندے کړے وو. ٢ هلته هغوئ هغهٔ
له د ماښام مېلمستیا وکړه چې مرتا په کښې خِدمت


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کولو او لعزر هم د عيسىٰ سره په نورو مېلمنو کښې په
دسترخوان ناست وو. ٣ بيا مريم ښهٔ قيمتى عطر چې
نيم سېر قدرې وُو او د خالص خوشبوداره مرهمو نه جوړ
وو راوړل، او د عيسىٰ په پښو يې واچول او هغه يې بيا
په خپلو وېښتو وچې کړې او ټول کور د دې عطرو د
خوشبويئ نه ډک شو. ٤ خو په دې يهوداه
اِسکريوتى، چې د عيسىٰ يو مريد وو چې لږ وروستو د
هغهٔ مُخبر کېدونکے وو، ووئيل چې، ٥ ”دا عطر په
درې سوه ديناره ولې خرڅ نهٔ کړے شو چې پيسې يې
خوار غريب له ورکړے شوے وے؟“ ٦ هغهٔ دا خبره په
دې ونهٔ کړه چې ګني هغه د خوارانو غمخور وو، خو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغه په خپله غل وو. هغهٔ به د هغه پیسو نه
هم پټولې کومې به چې د چندې په تیلۍ کښې جمع
کېدې او د هغهٔ په اختیار کښې به وې. ۷ عیسیٰ
وفرمائیل چې، ”هغه خپلې خوښې ته پرېږدئ. هغې دا
عطر واخستل چې زما د ښخولو د ورځې دپاره یې
وساتی. ۸ ځکه چې غریبانان خو به تل تاسو سره وی
خو زهٔ به درسره تل نهٔ یم.“

# د لعزر خلاف سازش


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ کله چې د یهودیانو هغه لویه ګڼه خبر شوه چې
هغه هلته دے، هغوئ نۀ یواځې دې له راتلل چې
عیسیٰ ووینی خو د لعزر د کتلو دپاره هم شوک چې
هغۀ د مړو نه بیا راژوندے کړے وو. ۱۰ نو مشرانو
اِمامانو دا منصوبه جوړه کړه چې لعزر هم مړ کړئ، ۱۱
ځکه چې د هغۀ په وجه ډېر یهودیان عیسیٰ له ورتلل
او په هغۀ یې ایمان راوړو.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ په یروشلم کښې استقبال

۱۲ په بله ورځ ګڼ خلق چې اختر له راغلی وُو
چې د دې نه خبر شول چې عیسیٰ هم یروشلم ته
راروان دے، ۱۳ نو هغوئ د کجورې څانګې واخستلې
او د هغهٔ استقبال له ورووتل او دا نعرې یې وهلې،
”اُمبارکی. مبارک دے هغه څوک چې د مالِک خُدائ
په نوم راځی، د بنی اِسرائیلو بادشاه دې مبارک وی.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ او عيسىٰ يو کوچانړے ومونډلو او په هغې سور شو،
لکه څنګه چې په صحيفو کښې ليکلى دى، ۱۵
”اے د صيون لورې. مۀ يرېږه. وګوره، ستا بادشاه په
کوچانړى سور راروان دے.“ ۱۶ هغه وخت خو د
عيسىٰ مريدان په دې پوهه نۀ شول، خو کله چې
عيسىٰ خپلې لويئ ته ورسېدلو نو هغوئ ته بيا ورياد شول
چې دا خو د هغۀ په حقله ليکلے شوى وُو او هم دغه
شان د هغۀ سره وشول. ۱۷ نو کوم خلق چې د هغۀ
سره وُو کله چې عيسىٰ لعزر ته د قبر نه د راوتلو آواز
وکړو او د مړو نه يې بيا ژوندے کړو، نو هغوئ د هغې
ګواهى جارى ساتله. ۱۸ هم دغه وجه وه چې ډېر خلق


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ سره مِلاويدو له ورغلل، ځکه چې هغوئ اوریدلی
وُو چې هم هغهٔ دا معجزه کړې ده. ۱۹ بیا فریسیانو یو
بل ته ووئیل، ”تاسو ګورئ چې مونږ هیڅ نهٔ شُو کولے،
وګورئ، ټوله دُنیا په هغهٔ پسې روانه ده.“

# ځینو یونانیانو غوښتل چې حضرت عیسیٰ


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# سره مِلاو شي

٢٠ يو څو يونانيان په اختر کښې د عبادت دپاره
تلی وُو. ٢١ هغوئ فيليپوس له راغلل څوک چې د
بيتِ‌صيدا د ګليل اوسېدونکے وو، او هغۀ ته يې ووئيل،
”صاحبه، مونږ غواړو چې عيسیٰ سره مِلاو شُو.“ ٢٢
فيليپوس لاړو او اندرياس ته يې ووئيل، بيا هغوئ دواړه
لاړل او عيسیٰ يې خبر کړو. ٢٣ عيسیٰ هغوئ ته
جواب ورکړو، ”هغه وخت راغلو چې اِبن آدم خپله لوئی
ومومی. ٢٤ زۀ تاسو ته رښتيا وايم ترڅو چې د غنمو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دانه په زمکه کښې ونۀ غورزيږی او په خاوره کښې ښنخه

او مړه نۀ شی تر هغې به دا صرف يوه دانه وی. خو

کله چې دا په خاورو کښې ښنخه شی نو دا ډېره مېوه

پيدا کړی. ۲۵ هغه څوک چې د خپل ژوند سره مينه

کوی هغه به يې بائيلی، او څوک چې په دُنيا کښې د

خپل ژوند نه نفرت کوی، هغه به يې د تل ژوندون دپاره

وساتی. ۲۶ کۀ څوک زما خِدمت کوی هغه دې ما

پسې راځی، او چرته چې زۀ يم هلته به زما خادِم هم

وی. هر څوک چې زما خِدمت کوی، هغۀ له به زما

پلار عزت ورکړی.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عيسیٰ د خپل مرګ په حقله خبرې کوی

۲۷ اوس زما زړهٔ پرېشانه دے او زهٔ څهٔ ووايم؟ چې
اے پلاره، ما د دې وخت نه بچ کړه؟ خو، هم دا وجه
ده چې زهٔ دې وخت له راغلے يم. ۲۸ اے پلاره، خپل
نوم ته جلال ورکړه.“ بيا د آسمان نه يو آواز راغلو، ”ما


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خپل نوم ته جلال ورکړے دے او زۀ به بيا هم جلال
ورکړم.“ (۲۹) کومه ګڼه چې هلته ولاړه وه هغوئ دا
واوريدل او وئ وئيل چې دا د تندر آواز وو خو نورو
ووئيل چې، ”فرښتې هغۀ سره خبرې وکړې.“ (۳۰)
عيسیٰ وفرمائيل چې، ”دا آواز زما د ګټې دپاره نه، خو
ستاسو دپاره وو. (۳۱) اوس د دې دُنيا د عدالت وخت
دے او د دې دُنيا سردار يعنې شيطان به اوس بهر
وويستلے شی. (۳۲) او کله چې زۀ د زمکې نه وخيژولے
شم نو زۀ به ټول خلق خپل ځان ته راکاږم.“ (۳۳)
عيسیٰ دې خبرې ته اِشاره وکړه چې هغه به په کوم
مرګ مری. (۳۴) ګڼې جواب ورکړو چې، ”زمونږ شريعت


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دا وائی چې مسیح به تل تر تله وی، نو بیا تهٔ څنګه
وائې چې اِبن آدم به ضرور په سولئ وځېژولے شی؟ دا
اِبن آدم دے څوک؟“ ۳۵ عیسیٰ هغوئ له جواب
ورکړو، ”رڼا لږ وخت دپاره تاسو سره ده. ترڅو چې رڼا
تاسو سره ده وګرځئ، هسې نه چې تیارهٔ مو راګېر
کړی. څوک چې په تیارهٔ کښې ګرځی، هغهٔ ته پته نهٔ
وی چې چرته روان دے. ۳۶ ترڅو چې رڼا تاسو سره
ده، په رڼا یقین کوئ نو چې تاسو د رڼا زامن شئ.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د یهودیانو بې‌ایمانی

د دې خبرو نه پس عیسیٰ د هغوئ نه لاړو او پټ
شو. ۳۷ اګر که عیسیٰ ډیرې معجزې د هغوئ په
موجودګئ کښې وکړې، خو هغوئ په هغهٔ باندې ایمان
رانهٔ وړو ۳۸ چې د یشعیاه نبی دا خبره پوره شی چې
فرمائیلی یې وُو، ”اے مالِکه، زمونږ په پېغام باندې چا
یقین کړے دے؟ مالِک خُدائ خپل قوت په چا ظاهر
کړے دے؟“ ۳۹ په دې وجه هغوئ ایمان راوړلے نهٔ
شو، ولې چې یشعیاه نبی دا هم وفرمائیل چې، ۴۰


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”هغۀ د هغوئ سترګېړندې کړې دی او زړونه يې ورله سخت کړی دی، نو چې هغوئ په خپلو سترګو ونۀ وينی او په خپلو زړونو کښې پرې پوهه نۀ شی او د رغېدو دپاره ما ته راونۀ ګرځی او زۀ يې روغ کړم.“ (۴۱) يشعياه دا خبرې ځکه وکړې چې هغۀ د عيسیٰ لوئی وليده او د هغۀ په حق کښې يې خبرې کولې. (۴۲) خو سره د دې په هغوئ کښې ډېرو يهودی مشرانو هم په هغۀ ايمان راوړو، خو د فريسيانو په وجه يې د دې اِقرار نۀ کولو، او د دې يرې چې هغوئ به د عبادتخانې نه بهر کړے شی. (۴۳) ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک نه د عزت په نسبت د انسان نه عزت حاصلول زيات


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خوښول.

# د حضرت عيسىٰ کلام

۴۴ نو عيسىٰ په اوچت آواز وفرمائيل، ”کۀ څوک په
ما ايمان راوړى نو هغه نۀ يوائې دا چې په ما ايمان
راوړى بلکې په هغه چا هم چې زۀ يې رالېږلے يم. ۴۵
او څوک چې ما وينى هغه، هغه څوک وينى چې زۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

يې رالېږلے يم. ۴۶ زۀ دُنيا ته لکه د رڼا په شان راغلے
يم د دې دپاره چې څوک په ما ايمان راوړی هغه به په
تيارۀ کښې پاتې نۀ شی. ۴۷ زۀ د هغه چا عدالت نۀ
کوم څوک چې زما کلام اوری او تابعداری يې نۀ کوی
ځکه چې زۀ د دې دپاره نۀ يم راغلے چې د دُنيا
عدالت وکړم بلکې د دُنيا د بچ کولو دپاره راغلے يم.
۴۸ خو څوک چې ما نۀ منی او زما پيغام نۀ قبلوی، د
هغۀ دپاره يو منصف شته، يعنې، زما هغه کلام چې ما
کړے دے، هغه به په ورځ د آخرت د هغۀ عدالت
وکړی. ۴۹ زۀ په خپل اختيار خبرې نۀ کوم خو پلار
چې زۀ يې رالېږلے يم هغۀ ما ته حُکم کړے دے چې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ ووايم او څنګه يې ووايم. ۵۰ او زۀ خبر يم چې د

هغۀ حُکم د تل عُمرى ژوندون ورکوى، نو ځکه څۀ

چې پلار ما ته فرمائيلى دى، هم هغه څۀ زۀ وايم.“

# د مريدانو پښې وينځل

۱ د فسح د اختر نه مخکښې عيسىٰ ته معلومه

شوه چې د دُنيا نه د هغۀ د جدايۍ وخت رانزدې شوے

دے او هغه به خپل پلار ته ورشى. او د خپلو مريدانو

سره يې په دې دُنيا کښې مينه وه، او تر آخره وخته


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې يې ورسره مينه وکړه. ۲ د ماښام د روټئ وخت
وو، او اِبليس د مخکښې نه د شمعون اِسکريوتى د
زوئ يهوداه په زړۀ کښې دا خيال اچولے وو چې په
عيسىٰ مُخبرى وکړى. ۳ او عيسىٰ پوهه وو چې پلار
هغۀ له د هر څۀ اختيار ورکړے دے او چې هغه د
خُدائ پاک نه راغلے دے او خُدائ پاک له واپس روان
دے. ۴ نو هغه د روټئ نه پاڅېدو، خپل څادر يې يو
طرف ته کېښودو، يوه توليه يې راواخسته او د ملا نه يې
تاو کړه. ۵ بيا هغۀ په يو لوښى کښې اوبۀ واچولې او
د خپلو مريدانو په ښپو وينځلو يې شروع وکړه او په هغه
توليه يې وچولې چې د ځان نه يې تاو کړې وه. ۶


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې هغه شمعون پطروس ته راورسېدو نو پطروس
هغۀ ته ووئيل چې، ”مالِکه، تۀ به زما پښې وينځې؟“
٧ عيسیٰ جواب ورکړو، ”څۀ چې زۀ کوم، تۀ اوس په
دې نۀ پوهېږې خو وروستو به پوهه شې.“ ٨ پطروس
هغۀ ته ووئيل، ”زۀ به تاسو هيڅکله پرې نۀ ږدم چې زما
پښې ووينځې.“ عيسیٰ جواب ورکړو چې، ”ترڅو چې
زۀ تا ونۀ وينځم نو تۀ به زما مريد نۀ يې.“ ٩ شمعون
پطروس هغۀ ته ووئيل، ”بيا نو مالِکه، نۀ يواځې زما
پښې بلکې لاسونه او سر مې هم ووينځه.“ ١٠ عيسیٰ
هغۀ ته وفرمائيل، ”چا چې لامبلی وی هغۀ ته د پښو د
وينځلو نه علاوه نور حاجت نشته بلکې هغه ټول پاک


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے، او تاسو پاک یئ خو ټول نه.“ ۱۱ ځکه چې
عیسیٰ ته معلومه وه چې څوک به په هغهٔ مُخبری کوی
نو په دې وجه هغهٔ وفرمائیل چې، تاسو ټول پاک نهٔ
یئ. ۱۲ د هغوئ د پښو وینځلو نه پس، هغهٔ خپل
څادر راواخستو او کښېناستو او د هغوئ نه یې تپوس
وکړو، ”تاسو په دې پوهه شوئ چې ما تاسو سره څهٔ
وکړل؟ ۱۳ تاسو ما ته اُستاذ او مالِک وایئ او دا ټیک
وایئ ځکه چې زهٔ یم. ۱۴ نو کهٔ ما ستاسو مالِک او
اُستاذ ستاسو پښې ووینځلې نو په تاسو هم لازم دی
چې د یو بل پښې ووینځئ. ۱۵ ما ستاسو دپاره یو مِثال
قائم کړے دے، چې تاسو به هم هغه شان کوئ،


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه چې ما تاسو سره کړې دی. ۱۶ زۀ تاسو ته رښتيا
وايم چې يو نوکر د خپل مالِک نه لوئ نۀ وی او نۀ
پيغام وړونکے د رالېږونکی نه لوئ وی. ۱۷ اوس تاسو په
دې خبره پوهه شوئ نو تاسو بختور يئ کۀ چرې عمل
پرې وکړئ. ۱۸ زۀ ستاسو ټولو په حقله نۀ وايم، څوک
چې ما غوره کړی دی هغوئ زۀ پېژنم. خو چې د
صحيفې دا خبره پوره شی چې، ”نو هغه چا چې روټۍ
به يې ما سره خوړه هم هغه زما خلاف شولو.“ ۱۹ زۀ
تاسو ته اوس د هغه واقعې د پېښېدو نه مخکښې دا
وايم د دې دپاره چې کله هغه پېښه شی نو چې تاسو
ايمان راوړئ چې مسيح هم زۀ يم. ۲۰ زۀ تاسو ته رښتيا


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایم څوک چې زما یو پیغام ورونکړے قبول کړی هغوئ

ما قبلوی او څوک چې ما قبول کړی نو هغه قبلوی چا

چې زۀ رالیږلے یم.“

# د حضرت عیسیٰ د خپل مُخبر په حق کښې پیشګوئي



Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢١ د دې وئيلو نه پس عيسىٰ روح کښې سخت
پرېشانه شو او وې وفرمائيل، "زۀ درته رښتيا وايم چې په
تاسو کښې به يو زما مُخبرى کوى." ٢٢ مريدانو يو بل
ته وکتل او شکمن شول چې دے دا د چا په حقله
خبرې کوى. ٢٣ په هغوئ کښې يو مريد چې عيسىٰ
ورسره مينه کوله، د عيسىٰ سره جُخت ناست وو. ٢٤
نو شمعون پطروس هغۀ ته اِشاره وکړه او ورته يې ووئيل
چې، "تپوس ترې وکړه چې هغه دا څوک يادوى." ٢٥
نو هغه مريد عيسىٰ ته سر ورنزدې کړو او تپوس يې ترې
وکړو، "مالِکه، دا څوک دے؟" ٢٦ عيسىٰ جواب
ورکړو، "دا هغه څوک دے چې زۀ ورته د روټۍ دا ټُکړه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په تالۍ کښې لمده کړم او ور يې کړم.“ بيا هغهٔ د
روټۍ ټُکړه لمده کړه او د شمعون اِسکريوتى زوئ يهوداه
له يې ورکړه. ٢٧ د روټۍ د ټکړې خوړلو نه پس شېطان
په هغهٔ کښې ورننوتو. عيسىٰ هغهٔ ته وفرمائيل، ”څهٔ
چې کوې، زر يې وکړه.“ ٢٨ څوک چې روټۍ ته
ناست وُو د هغوئ نه يو کس هم په دې پوهه نهٔ شو
چې هغهٔ ولې دهٔ ته داسې وفرمائيل. ٢٩ ځينو دا گُمان
وکړو چې يهوداه سره تيلۍ ده، نو عيسىٰ هغهٔ ته دا
وفرمائيل چې اختر له چې څهٔ په کار دى هغه واخله يا
دا چې غريبانانو له څهٔ ورکړه. ٣٠ د نوړى اخستو نه پس
سمدستى يهوداه بهر ووتو. او دا توره شپه وه.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ نوے حُکم

۳۱ کله چې یهوداه بهر لاړو نو عیسیٰ وفرمائیل،
”اوس اِبن آدم خپله لوئی ومونډله او خُدائ پاک په هغهٔ
کښې لوئی ومونډله. ۳۲ کهٔ خُدائ پاک په هغهٔ کښې
لوئی ومونډله، نو خُدائ پاک به هم هغهٔ ته په خپل
ځان کښې لوئی ورکړی او هغهٔ ته به زر لوئی ورکړی.
۳۳ زما بچو، زهٔ به د لږ وخت دپاره تاسو سره یم. بیا


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به تاسو ما لټوئ، او څنګه چې ما يهوديانو ته وفرمائيل،
نو دغه شان اوس تاسو ته هم وايم، چرته چې زۀ ځم
هلته تاسو نۀ شئ راتلے. ۳۴ زۀ تاسو له يو نوے حُکم
درکوم چې د يو بل سره مينه کوئ. لکه چې ما تاسو
سره مينه کړې ده نو دغه شان تاسو هم د يو بل سره
مينه کوئ. ۳۵ کۀ تاسو د يو بل سره مينه کوئ نو بيا
به ټول خلق په دې پوهه شی چې تاسو زما مريدان
يئ.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ د شمعون پطروس د اِنکار په حقله پیشګوئي کول

٣٦ شمعون پطروس هغهٔ ته ووئیل، ”مالِکه، تهٔ چرته
ځې؟“ عیسیٰ جواب ورکړو، ”چرته چې زهٔ ځم، تهٔ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

اوس ما پسې هلته نۀ شې راتلے خو وروستو به راشې.“
٣٧ پطروس هغۀ ته ووئيل، ”مالِکه، زۀ اوس ولې نۀ شم
درتلے؟ زۀ به خپل ځان په تا قربان کړم.“ ٣٨ عيسىٰ
جواب ورکړو، ”تۀ به په رښتيا خپل ځان په ما قربان
کړې څۀ؟ زۀ تا ته رښتيا وايم چې نن به تۀ د چرګ د
بانګ نه وړاندې درې ځله زما نه اِنکارى شې.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ پلار ته د ورتلو لار ده

١ ”خپل زړونه مۀ پرېشانه کوئ، په خُدائ پاک
ایمان ساتئ، او په ما هم ایمان ساتئ. ٢ زما د پلار
په کور کښې د اوسېدو ډېر ځایونه دی. کۀ چرې داسې
نۀ وے نو بیا به ما تاسو ته دا وئیلی وُو څۀ چې زۀ ځم
چې تاسو دپاره ځائ تیار کړم؟ ٣ او کۀ زۀ لاړ شم او
تاسو له ځائ تیار کړم نو زۀ به په خپله بیا راشم او تاسو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

به د ځان سره بوځم، نو چې چرته زۀ يم هلته به تاسو
هم يئ. ۴ او تاسو ته د هغې لارې پته ده کوم ځائ
ته چې زۀ روان يم.“ ۵ توما هغۀ ته ووئيل، ”مالِکه،
مونږ ته پته نشته چې تۀ چرته روان يې، نو مونږ ته د
لارې څۀ پته ده؟“ ۶ عيسىٰ هغۀ ته وفرمائيل، ”زۀ لار
يم، زۀ حق يم او زۀ ژوندون يم. هيڅوک هم زما د
وسيلې نه بغير پلار له نۀ شي راتلے. ۷ کۀ تاسو زۀ
پيژندلے نو تاسو به زما پلار هم پيژندلو. د هم اوس نه
تاسو هغه پيژنئ او ليدلے مو دے.“ ۸ فيليپوس هغۀ ته
ووئيل، ”مالِکه، مونږ ته پلار وښايه نو مونږ به مطمئن
شُو.“ ۹ عيسىٰ جواب ورکړو چې، ”فيليپوسه، تا سره


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ د دومره مودې نه یم او بیا مې هم نۀ پېژنې څۀ؟ چا
چې زۀ لیدلے یم هغۀ پلار هم لیدلے دے، نو بیا تۀ
څنګه وائې چې مونږ ته پلار وښايه؟ ۱۰ په دې ستاسو
باور نشته چې زۀ په پلار کښې یم او پلار په ما کښې
دے؟ زۀ چې کومې خبرې تاسو ته کوم هغه زۀ د خپل
ځان نه نۀ کوم، خو دا پلار دے چې په ما کښې
اوسی او زما په وسیله خپل کار کوی. ۱۱ په ما یقین
وکړئ چې زۀ پلار کښې یم او پلار په ما کښې دے
خو کۀ په ما یقین نۀ کوئ، نو بیا په ما د دې کارونو
په وجه باور وکړئ. ۱۲ زۀ تاسو ته رښتیا وایم، څوک
چې په ما ایمان راوړی هغه به هم هغه کارونه کوی لکه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې زۀ يې کوم، او هغه به د دې نه هم لوئ کارونه
کوی ځکه چې زۀ پلار له روان يم. ۱۳ تاسو چې څۀ
هم زما په نوم وغواړئ زۀ به هغه وکړم نو چې د پلار
لوئی په زوئ کښې څرګنده شی. ۱۴ کۀ تاسو زما په
نوم ما نه څۀ هم وغواړئ زۀ به يې وکړم.

# د روحُ القُدس وعده

۱۵ کۀ تاسو ما سره مينه کوئ نو تاسو به زما په
حُکمونو عمل کوئ. ۱۶ او زۀ به پلار ته خواست وکړم


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو ته بل مددګار درکړی چې تاسو سره به مدام
وی. ١٧ هغه د حق روح دے، کوم چې دُنیا نۀ قبلوی
ځکه چې دُنیا نۀ خو هغه وینی او نۀ یې پېژنی. خو
تاسو هغه پېژنئ ځکه چې هغه تاسو سره اوسی او هغه
به په تاسو کښې وی. ١٨ زۀ به تاسو یتیمان نۀ پرېږدم،
زۀ تاسو له واپس راځم. ١٩ لږ وخت پس به دُنیا ما نور
ونۀ وینی خو تاسو به مې وینئ. ځکه چې زۀ ژوندے یم
نو تاسو به هم ژوندی یئ. ٢٠ په هغه ورځ به تاسو
پوهه شئ چې زۀ په خپل پلار کښې یم او تاسو په ما
کښې یئ او زۀ په تاسو کښې یم. ٢١ څوک چې زما
حُکمونه منی او په هغې عمل کوی نو دا هغه خلق دی


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې ما سره مینه کوی. او څوک چې ما سره مینه کوی
زما پلار به ورسره مینه وکړی او زۀ به هم د هغۀ سره مینه
کوم او خپل ځان به ورته ښکاره کړم.“ ۲۲ بل یهوداه
ترې تپوس وکړو، ”مالِکه، دا څۀ وجه ده چې تۀ به
صرف مونږ ته ځان ښکاره کړې او نورې دُنیا ته نه؟“
۲۳ عیسیٰ ورته جواب ورکړو، ”څوک چې زما سره مینه
کوی، هغوئ به زما په کلام عمل کوی او زما پلار به د
هغوئ سره مینه کوی، او زۀ او پلار به هغوئ ته ورشو او
د هغوئ سره به اوسو. ۲۴ څوک چې ما سره مینه نۀ
کوی هغه زما په کلام عمل نۀ کوی، او دا کلام چې
تاسو یې اورئ دا زما نۀ دے بلکې دا د پلار کلام دے


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چا چې زۀ رالېږلے يم. ٢٥ ترڅو چې لا زۀ تاسو سره يم
ما تاسو ته دا هر څۀ وفرمائيل. ٢٦ خو مددګار يعنې
روحُ القُدس چې پلار به يې زما په نوم راولېږى، هغه به
تاسو ته هر څۀ وښائى او درته به هغه هر څۀ دريادوى،
چې ما تاسو ته فرمائيلى دى. ٢٧ زۀ تاسو ته سکون
پرېږدم، زما خپل سکون، هغه چې دُنيا يې نۀ شى
ورکولے. نو مۀ پرېشانه کېږئ او مۀ يرېږئ. ٢٨ تاسو
واورېدل چې ما درته وفرمائيل، زۀ درنه روان يم او زۀ بيا
تاسو له واپس راځم. کۀ چرې تاسو ما سره مينه کوئ
نو تاسو به په دې خوشحاله شئ چې زۀ پلار له روان
يم ځکه چې پلار زما نه لوئ دے. ٢٩ ما تاسو ته


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس د دې د پېښېدو نه مخکښې دا وفرمائيل نو چې
کله دا پېښ شى نو تاسو به ايمان راوړئ. ۳۰ زۀ به پس
د دې نه تاسو سره ډېرې خبرې ونۀ کړم ځکه چې د
دې دُنيا سردار يعنې شېطان راتلونکے دے. خو د هغۀ
په ما هيڅ اختيار نشته. ۳۱ زۀ هغه کار کوم چې پلار
ښکه حُکم کړے دے نو ځکه چې دُنيا په دې پوهه
شى چې زۀ د پلار سره مينه کوم. نو راځئ چې د دې
ځائ نه ځو.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ د انګور اصلی بوټے

۱ ”زۀ د انګور اصلی بوټے يم او زما پلار باغوان
دے. ۲ هغه زما نه هره هغه خانګه پرې کوی چې
مېوه نۀ نيسی او هره خانګه چې مېوه نيسی په هغې
کښې قينچی کوی چې نوره زياته مېوه ونيسی. ۳ د
هغه کلام په ذريعه کوم چې ما تاسو ته اوروّلے دے
تاسو خو پاک او صفا شوی يئ. ۴ په ما کښې اوسئ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لکه چې زهٔ په تاسو کښې اوسېږم. لکه څنګه چې يوه
ښانګه يوائځې مېوه نهٔ شی نيولے، ترڅو چې هغه د
انګور د بوټی سره پيوند نهٔ وی، دغسې تاسو هم مېوه نهٔ
شئ نيولے ترڅو چې تاسو په ما کښې نهٔ اوسئ. ٥ زهٔ
د انګور بوټے يم او تاسو زما ښانګې يئ. څوک چې په
ما کښې اوسی او زهٔ په هغوئ کښې نو هغوئ ډېره مېوه
نيسی، ځکه چې زما نه بغېر تاسو هيڅ نهٔ شئ کولے.
٦ هر څوک چې په ما کښې نهٔ اوسی هغه به لکه د
بې‌کاره ښانګې په شان ګزار کړے شی، او اوچ به
شی، او دغه شان اوچې ښانګې يو ځائ ته راټولېږی او
په اور کښې سوزولے کېږی. ٧ کهٔ چرې تاسو په ما


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کښېې اوسئ او زما خبرې په تاسو کښېې اوسی نو څۀ
چې تاسو غواړئ هغه به تاسو له درکړے شی. ۸ نو
چې کله تاسو ډېره مېوه نیسئ نو په دې سره زما اصلی
مریدان یئ او په دې سره زما پلار ته لوئی ملاوېږی. ۹
ځنګه چې پلار ما سره مینه کړې ده نو دغه شان زۀ
تاسو سره مینه کوم. زما په مینه کښېې اوسئ. ۱۰ کۀ
چرې تاسو زما په حُکمونو عمل کوئ نو تاسو به زما په
مینه کښېې اوسېږئ لکه ځنګه چې ما د خپل پلار په
حُکمونو عمل کړے دے او د هغۀ په مینه کښېې
اوسېږم. ۱۱ ما تاسو ته دا ټولې خبرې د دې دپاره وکړې
چې زما خوشحالی په تاسو کښېې وی او چې ستاسو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالی پوره شی. (۱۲) دا زما حُکم دے، چې تاسو
د یو بل سره مینه کوئ څنګه چې ما تاسو سره مینه
کړې ده. (۱۳) د دې نه لویه مینه چا کښې نشته چې یو
کس دې د خپل دوست دپاره خپل سر ورکړی. (۱۴)
تاسو به هله زما دوستان یئ چې زما په حُکمونو عمل
کوئ. (۱۵) نو زهٔ د دې نه پس تاسو ته غلامان نهٔ وایم،
ځکه چې غلام ته پته نهٔ وی چې د هغهٔ مالِک څهٔ
کوی، خو ما تاسو ته دوستان وئیلی دی ځکه چې ما
تاسو ته هر هغه څهٔ ښکاره کړی دی کوم چې ما د
پلار نه اورېدلی دی. (۱۶) تاسو زهٔ غوره کړے نهٔ یم خو
ما تاسو غوره کړی یئ او ما تاسو مقرر کړئ چې لاړ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شئ او مېوه ونيسئ، هغه مېوه چې د تل ده. نو پلار به
تاسو ته هر هغه څۀ درکړى څۀ چې تاسو زما په نوم د
هغۀ نه وغواړئ. ۱۷ دا زما تاسو ته حُکم دے چې د يو
بل سره مينه کوئ.

# تاسو نه د دُنيا نفرت

۱۸ کۀ دُنيا تاسو نه نفرت کوى نو تاسو پوهه شئ
چې ستاسو نه اول يې ما نه نفرت کړے دے. ۱۹ کۀ
چرې تاسو د دُنيا وے نو دُنيا به تاسو سره د خپلو په


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان مینه کړې وه، خو تاسو د دُنیا نۀ یئ. خو ما تاسو

د دُنیا نه جدا کړئ نو دغه وجه ده چې دُنیا تاسو نه

نفرت کوی. (۲۰) دا خبرې یادې ساتئ چې کومې ما

تاسو ته وکړې، یو نوکر هم د خپل مالِک نه لوئ نۀ

وی. نو چې هغوئ زۀ وزورولم نو تاسو به هم وزوروی.

کۀ هغوئ زما په کلام عمل وکړی نو ستاسو په کلام به

هم عمل وکړی. (۲۱) خو دوئ به زما د نوم په سبب

تاسو سره دا هر څۀ وکړی ځکه چې هغوئ هغه نۀ

پېژنی چا چې زۀ رالېږلے یم. (۲۲) کۀ زۀ راغلے نۀ وے او

دوئ ته مې وئیلے نۀ وے نو دوئ به مجرم نۀ وُو، خو

اوس د هغوئ سره د خپلې ګناه څۀ بهانه نشته. (۲۳)


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې ما نه نفرت کوی هغه زما د پلار نه هم نفرت کوی. ۲۴ کۀ چرې ما د هغوئ په مينځ کښې داسې کارونه نۀ وے کړے کوم چې بل هيچا هم نۀ دی کړی نو هغوئ به مجرم نۀ وے، خو اوس هغوئ دا وليدل او مونږ پلار زوئ دواړو نه نفرت کوی. ۲۵ هم د هغوئ په شريعت کښې دا ليکلی دی چې، "هغوئ ما نه بې‌سببه نفرت وکړو." ۲۶ خو چې مددګار راشی کوم چې به زۀ تاسو ته د پلار نه درلېږم، يعنې د حقيقت روح چې د پلار نه راوځی، هغه به زما په باب کښې ګواهی ورکړی. ۲۷ تاسو به هم ګواهی ورکوئ ځکه چې تاسو د اول نه ما سره يئ."

 Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مریدانو نه د دُنیا نفرت

١ ”ما تاسو ته دا خبرې د دې دپاره وکړې چې تاسو د تیندک خوړلو نه بچ شئ. ٢ نو هغوئ به تاسو د عبادتخانو نه شړی، او بېشکه داسې وخت راتلونکے دے څوک چې تاسو قتلوی هغوئ به دا گُمان کوی چې په دې کار کولو سره هغوئ د خُدائ پاک خِدمت کوی. ٣ هغوئ به دا کارونه ځکه کوی چې هغوئ نۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پلار پيژنی او نۀ ما.

# د روحُ القُدس کار

۴ خو ما دا خبرې تاسو ته ځکه وکړې چې کله
دا کار پيښ شی نو تاسو ته به رایاد شی چې ما تاسو د
دې په حقله خبر کړی وۀ. ما تاسو ته دا خبرې د اول
نه ځکه ونۀ کړې ځکه چې زۀ تاسو سره وم، ۵ خو
اوس زۀ هغه چا ته روان یم چا چې زۀ رالیږلے یم. اوس
په تاسو کښې هيڅوک زما نه دا تپوس نۀ کوی چې تۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چرته روان يې؟ ۶ خو دا کومې خبرې چې ما تاسو ته
وکړې په هغې ستاسو زړونه غمژن شول. ۷ خو زۀ تاسو
ته رښتيا وايم چې دا ستاسو دپاره بهتره ده چې زۀ لاړ
شم. ځکه کۀ زۀ لاړ نۀ شم نو مددګار به تاسو ته رانۀ
شى خو کۀ زۀ لاړ شم نو هغه به زۀ تاسو له راوليږم.
۸ او کله چې هغه راشى نو هغه به دُنيا د ګناه او د
صداقت او اِنصاف په باب کښې ملامته کړى، ۹ د
ګناه په باب کښې ځکه چې هغوئ په ما ايمان نۀ
راوړى، ۱۰ د صداقت په باب کښې ځکه چې زۀ پلار
له ځم او تاسو به ما نور ونۀ وينئ، ۱۱ او د اِنصاف په
باب کښې ځکه چې د دې دُنيا سردار يعنې شيطان


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مجرم کړے شو. ۱۲ ما سره نورې هم ډېرې خبرې دى

چې تاسو ته يې وکړم خو تاسو اوس دا نۀ شئ برداشت

کولے. ۱۳ خو چې د حقيقت روح راشى نو هغه به

تاسو د حقيقت طرف ته بوځى ځکه چې هغه به د

خپله ځانه خبرې نۀ کوى، خو هغه څۀ به وائى څۀ

چې د خُدائ پاک نه اورى او تاسو ته به د راتلونکو

واقعاتو په حقله پيشګوئې کوى. ۱۴ هغه به ما ته لوئى

راکړى ځکه چې هغه به زما نه هغه څۀ حاصل کړى

چې په ما کښې دى او تاسو ته به ووائى. ۱۵ څۀ چې

د پلار دى هغه زما دى، په دې وجه ما تاسو ته

وفرمائيل چې هغه به ما نه هغه څۀ حاصل کړى څۀ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې په ما کښې دی او تاسو ته به يې وښائی.

# غم په خوشحالی کښې بدليدل

⑯ په لږ ساعت کښې به تاسو نور ما نۀ وينئ او بيا
لږ ساعت پس به تاسو ما ووينئ.“ ⑰ بيا د هغۀ ځينو
مريدانو يو بل ته ووئيل، ”د هغۀ مونږ ته د دې بيان نه
څۀ مطلب دے چې په لږ ساعت کښې به تاسو نور ما


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ وينئ او بيا لږ ساعت پس به تاسو ما ووينئ، او، چې
زهٔ خپل پلار له روان يم؟“ 18 هغوئ وئيل چې، ”د
هغهٔ د دې لږ ساعت نه څهٔ مطلب دے؟ مونږ ته پته
نشته چې د هغهٔ بيان د څهٔ په حقله دے.“ 19 عيسىٰ
په دې پوهه شو چې هغوئ له ما نه د تپوسونو په طلب
دى نو هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل، ”ولې تاسو په دې بحث
کوئ کوم بيان چې ما تاسو له وکړو چې، په لږ ساعت
کښې به تاسو نور ما نهٔ وينئ او بيا لږ ساعت پس به
تاسو ما ووينئ؟ 20 نو زهٔ تاسو ته رښتيا وايم چې تاسو
به ژاړئ او وير به کوئ خو دُنيا به خوشحاله وى. تاسو
به په غم کښې ډوب يئ خو ستاسو غم به په


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالۍ بدل شی. ۲۱ د ماشوم د پیدا کېدو په
وخت کښې ښځه په تکلیف کښې وی. خو د ماشوم
په پیدا کېدو سره د هغې نه ټول دردونه هېر شی، د دې
خوشحالۍ په وجه چې هغې دُنیا ته یو نوے ماشوم
راوستو. ۲۲ نو اوس تاسو غمژن یئ خو زهٔ به تاسو بیا
ووینم او ستاسو زړونه به خوشحاله شی او هیڅوک به
ستاسو خوشحالی تاسو نه وانهٔ خلی. ۲۳ په هغه ورځ
به تاسو زما نه هیڅ خواست نهٔ کوئ. زهٔ تاسو ته رښتیا
وایم، کهٔ تاسو زما په نوم د پلار نه څهٔ هم وغواړئ، نو
هغه به یې درکړی. ۲۴ تر اوسه پورې تاسو زما په نوم
هیڅ نهٔ دی غوښتی. وغواړئ نو تاسو له به درکړے شی


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو چې ستاسو خوشحالی پوره شی.

# زهٔ په دُنيا غالب يم

٢٥ ما تاسو ته دا هر څهٔ په مِثالونو کښې بيان
کړل. خو وخت راروان دے چې زهٔ به تاسو ته نور په
مِثالونو کښې خبرې ونهٔ کړم خو په ډاګه به درته د پلار
په حقله خبرې کوم. ٢٦ په هغه ورځ به تاسو زما په نوم
غواړئ. زهٔ دا نهٔ وايم چې زهٔ به د پلار نه ستاسو دپاره
خواست کوم. ٢٧ ځکه چې پلار په خپله تاسو سره


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مینه کوی، ځکه چې تاسو ما سره مینه کوئ او ستاسو
دا ایمان دے چې زۀ د خُدائ پاک د طرف نه راغلے
یم. ۲۸ زۀ د پلار نه دې دُنیا ته راغلے یم او اوس زۀ
دُنیا بیا پرېږدم او خپل پلار له ځم." ۲۹ د هغۀ مریدانو
ووئیل، "ګوره، تۀ اوس په ډاګه لګیا یې او نۀ په
مِثالونو. ۳۰ مونږ اوس پوهېږو چې تۀ د هر څۀ نه خبر
یې او د تپوسونو کولو حاجت درنه د چا نشته. هم په
دې وجه زمونږ دا ایمان دے چې تۀ د خُدائ پاک د
طرفه راغلے یې." ۳۱ عیسیٰ هغوئ ته جواب ورکړو،
"ولې تاسو اوس په ما یقین کوئ څۀ؟ ۳۲ ګورئ،
وخت راروان دے، بلکې راغلے دے چې تاسو به


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خوارۀ وارۀ شئ او هر يو به خپلو کورونو ته لاړ شئ او تاسو به ما ايک يواځې پرېږدئ، خو بيا هم زۀ يواځې نۀ يم ځکه چې پلار ما سره دے. ﴿٣٣﴾ ما تاسو ته دا هر څۀ ووئيل نو چې تاسو په ما کښې سلامتيا حاصله کړئ. په دې دُنيا کښې به تاسو زحمتونو سره مخامخ شئ. خو زړَور شئ ځکه چې زۀ په دُنيا غالب شوے يم.“


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ د خپلو مریدانو دپاره دُعا

۱ د دې خبرو کولو نه پس عیسیٰ پاس آسمان ته
وکتل او وې فرمائیل، "پلاره، وخت راغلے دے، خپل
زوئ ته لوئی ورکړه نو چې زوئ تا له جلال درکړی. ۲
ځکه چې تا ما ته په ټولو بنی آدمو اختیار راکړے دے


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغوئ ټولو له تل عُمرى ژوندون ورکړم څوک چې
راته تا حواله کړى دى. ۳ او تل عُمرى ژوندون دا
دے چې هغوئ تا وپيژنى چې صرف تهٔ رښتينے خُدائ
پاک يې او عيسیٰ مسيح څوک چې تا رالېږلے دے.
۴ ما په زمکه تا له جلال درکړو د هغه کار په ختمولو
چې تا ما ته د کولو دپاره حواله کړے وو. ۵ نو اے
پلاره، اوس تهٔ ما له په خپل حضور کښې لوئى راکړه،
هغه لوئى چې کومه ما د دُنيا د پيدا کېدو نه اول ستا
په حضور کښې لرله. ۶ ما ستا نوم هغوئ ته ښکاره
کړو کوم خلق چې په دُنيا کښې تاسو ما ته راکړى
دى. هغوئ ستا وُو او تا ما له راکړل او هغوئ ستا په


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کلام عمل کړے دے. ۷ اوس هغوئ پوهه شوی دی
چې هر څۀ چې تا ما له راکړی دی دا ستا د طرفه
دی. ۸ ځکه چې ما هغوئ ته هغه کلام ورکړے دے
کوم چې تا ما له راکړے دے، او دوئ هغه قبول کړے
دے، او هغوئ په حقيقت پوهه شوی دی چې زۀ له تا
نه راغلے يم، او د هغوئ په دې ايمان دے چې زۀ تا
رالېږلے يم. ۹ زۀ د دُنيا دپاره دُعا نۀ کوم خو د هغوئ
دپاره دُعا کوم څوک چې تا ما ته په حواله کړی دی
ځکه چې هغوئ ستا دی. ۱۰ څۀ چې زما دی هغه
ستا دی، او څۀ چې ستا دی هغه زما دی، او په هغوئ
کښې زما لوئی څرګنده شوه. ۱۱ نور زۀ په دُنيا کښې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ پاتې کېږم خو هغوئ په دُنیا کښې دی او زهٔ تا ته

درروان يم. اے قُدوسه پلاره، د خپل نوم په طاقت د

هغوئ حفاظت وکړه څوک چې تا ما له راکړی دی، نو

چې هغوئ هم يو موټے شی څنګه چې مونږ دواړه يو

يُو. ⑫ ترڅو چې زهٔ د هغوئ سره وم ما ستا په نوم د

هغوئ حفاظت وکړو کوم چې تا ما له راکړے وو. ما د

هغوئ حفاظت وکړو او په هغوئ کښې يو هم هلاک

نهٔ شو بې له يو نه چې مرګ يې مقرر وو، نو چې د

صحيفې ليک پوره شی. ⑬ خو زهٔ اوس تا ته درروان

يم. چې په دُنيا کښې کله زهٔ دوئ سره وم نو ما دوئ

ته د دې خبرو بيان وکړو د دې دپاره چې دوئ زما د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالۍ نه معمور شی. ۱۴ ما ستا پيغام هغوئ له
ورکړے دے او دُنيا هغوئ نه نفرت کوی ځکه چې
هغوئ د دُنيا نۀ دی لکه څنګه چې زۀ د دُنيا نۀ يم.
۱۵ زۀ ستا نه دا خواست نۀ کوم چې دوئ د دې دُنيا
نه وباسې بلکې ستا نه دا خواست کوم چې دوئ د
شېطان نه محفوظ وساتې. ۱۶ دوئ د دُنيا نۀ دی لکه
څنګه چې زۀ د دُنيا نۀ يم. ۱۷ دوئ د حقيقت په
وسيله مقدس کړه، ستا کلام حقيقت دے. ۱۸ لکه
څنګه چې تا زۀ دُنيا ته رالېږلے يم نو دغه شان ما دوئ
دُنيا ته لېږلی دی. ۱۹ او د دوئ دپاره زۀ خپل ځان
مقدس کوم نو چې دوئ هم په حقيقت کښې مقدس


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شی. ۲۰ خو زۀ صرف د دوئ دپاره دُعا نۀ غواړم بلکې د هغه چا دپاره هم څوک چې د دوئ د کلام په وسیله به په ما ایمان راوړی. ۲۱ چې هغوئ هم یو موټے شی، اے پلاره، لکه څنګه چې تۀ او زۀ یو یُو. نو دغه شان دې دوئ هم په مونږ کښې یو وی، چې دُنیا په دې یقین وکړی چې زۀ تا رالیږلے یم. ۲۲ کومه لوئی چې تا ما له راکړې ده هغه ما دوئ له ورکړه د دې دپاره چې دوئ یو وی لکه چې مونږ یو یُو. ۲۳ زۀ په هغوئ کښې یم او تۀ په ما کښې یې، چې دوئ په مکمل توګه یو شی. بیا چې دُنیا په دې پوهه شی چې زۀ تا رالیږلے یم، او تا د دوئ سره هم داسې مینه وکړله لکه چې ما


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سره دې کوله. ۲۴ اے پلاره، هغه خلق څوک چې تا
ما له راکړی دی زۀ غواړم چې دوئ هم ما سره وی
چرته چې زۀ يم، چې دوئ زما لوئی ووينی کومه چې تا
ما له راکړې ده ځکه چې تا د دُنيا د پيدا کېدو نه
مخکښې ما سره مينه کړې ده. ۲۵ اے صادقه پلاره،
دُنيا تا نۀ پېژنی خو زۀ تا پېژنم او دوئ ته پته ده چې تا
زۀ رالېږلے يم. ۲۶ ما ستا نوم دوئ ته ښکاره کړو او دا
به لا نور هم ښکاره کوم د دې دپاره چې کومه مينه چې
تا ما سره کوله، هغه دې په دوئ کښې هم وی، او زۀ
دې هم په دوئ کښې يم.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ گرفتارول

۱ د دې خبرو نه پس عیسیٰ د خپلو مریدانو سره
بهر ووتو او د قِدرون د وادئ نه پورې وتلو. هلته یو باغ
وو چې عیسیٰ او د هغهٔ مریدان په کښې ورننوتل. ۲
نو یهوداه، څوک چې به د هغهٔ مُخبری کوی، هغهٔ ته
د هغه ځائ هم پته وه ځکه چې عیسیٰ به اکثر د خپلو
مریدانو سره هلته مِلاوېدو. ۳ نو یهوداه د فریسیانو او


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مشرانو اِمامانو له خوا د رومی آفسر وسله بنده دسته او
محافظان ډیوې او مشعلونه په لاس هغه ځائ ته راغلل.
۴ عیسیٰ په دې پوهېدو چې څۀ به ورسره کیږی خو
بیا هم ور مخکښې شو او هغوئ نه یې تپوس وکړو
چې، ”تاسو څوک لټوئ؟“ ۵ هغوئ جواب ورکړو
چې، ”عیسیٰ ناصری.“ عیسیٰ وفرمائیل، ”زۀ هغه
یم.“ او یهوداه چا چې د هغۀ مُخبری وکړه د هغوئ
سره ولاړ وو. ۶ کله چې عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل
چې، ”زۀ هغه یم،“ نو هغوئ وروستو شول او په زمکه
پرېوتل. ۷ عیسیٰ بیا هغوئ نه تپوس وکړو، ”دا تاسو
څوک لټوئ؟“ او هغوئ جواب ورکړو، ”عیسیٰ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ناصری.“ ٨ عیسیٰ ورته وفرمائیل، ”ما تاسو ته
وفرمائیل چې هغه زهٔ یم. کهٔ تاسو ما لټوئ نو دا نور
سړی پرېږدئ چې ځی.“ ٩ دا د هغهٔ د هغه خبرو
پوره کول وُو چې هغهٔ فرمائیلی وُو، ”چې ما د هغوئ نه
یو کس هم نهٔ دے ضائع کړے ځوک چې تا ما ته
حواله کړی دی.“ ١٠ نو شمعون پطروس خپله تُوره
راویستله او د مشر اِمام په غلام یې ګزار وکړو او ښے
غوږ یې ترې نه پرې کړو. د غلام نوم ملخوس وو. ١١
عیسیٰ پطروس ته وفرمائیل چې، ”خپله تُوره واپس په
تیکی کښې کېږده. ولې زهٔ هغه پیاله ونهٔ څښم چې
پلار ما ته راکړې ده؟“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عيسیٰ د مشر اِمام په مخکښې پېش کول

١٢ نو د سپاهيانو دستې سره د خپل آفسر او يهودى
محافظانو او مشرانو عيسیٰ ونيولو او وې تړلو. ١٣ هغوئ
هغه اول اناس ته بوتلو، اناس د کائفس سخر وو څوک
چې د هغه کال دپاره مشر اِمام وو. ١٤ کائفس هغه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سړے وو چا چې يهوديانو ته دا مشوره ورکړې وه چې دا

بهتره ده چې يو سړے د ټول قوم دپاره مړ شی.

# د حضرت عيسیٰ نه د پطروس اِنکار

۱۵ شمعون پطروس او يو بل مريد په عيسیٰ پسې

وروستو روان وُو او د هغه بل مريد د مشر اِمام سره تعلق

وو نو ځکه هغه د عيسیٰ سره د مشر اِمام دربار ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورننوتو. ١٦ خو پطروس د دروازې نه بهر ایسار شو. نو
هغه بل مرید چې د مشر اِمام سره يې تعلق وو، واپس
بهر راوتو او د هغه ښځې سره يې خبرې وکړې چې د
دروازې چوکيداره وه او پطروس يې دننه راوستو. ١٧
ښځې پطروس ته ووئيل، ”آيا تۀ هم د دې سړی مرید
نۀ يې څۀ؟“ پطروس ووئيل چې، ”نه، زۀ نۀ يم.“ ١٨
نوکرانو او محافظانو د سکارو اور بل کړے وو ځکه
چې يخنی وه او هغوئ ترې چاپيره ولاړ وُو او ځانونه يې
تودول. او پطروس هم د هغوئ سره ولاړ وو او ځان يې
تودولو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مشر اِمام د حضرت عيسىٰ نه تحقيقات کول

١٩ بيا مشر اِمام د عيسىٰ نه د هغۀ د مريدانو او د
هغۀ د تعليم په حقله تپوس وکړو. ٢٠ عيسىٰ جواب
ورکړو چې، ”ما دُنيا ته په ډاګه خبرې کړې دى. ما
هميشه په عبادتخانو او د خُدائ په کور کښې تعليم


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورکړے دے چرته چې ټول يهوديان راغونډېږی او ما په
پټه څۀ هم نۀ دی وئيلی. ۲۱ نو تۀ زما نه تپوسونه ولې
کوې؟ هغوئ نه تپوس وکړه چا چې هغه اورېدلی دی
څۀ چې ما هغوئ ته وئيلی دی، هغوئ ته پته ده چې
ما څۀ وئيلی دی." ۲۲ کله چې عيسىٰ دا وفرمائيل نو
يو محافظ چې د هغۀ په خوا کښې ولاړ وو عيسىٰ ته
يې په مخ څپېړه ورکړه او وې وئيل، "مشر اِمام ته څوک
داسې جواب ورکوی څۀ؟" ۲۳ عيسىٰ جواب ورکړو،
"کۀ بد مې وئيلی وی نو په ما يې ثابته کړه، خو کۀ
مې ټيک خبره کړې وی نو څپېړه دې ولې راکړه؟" ۲۴
بيا اناس عيسىٰ مشر اِمام کائفس ته تړلے ولېږلو.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د پطروس د حضرت عیسیٰ نه بیا اِنکار

۲۵ په دې دوران کښې شمعون پطروس ولاړ وو او
خپل ځان يې تودولو، نو هغوئ ترې تپوس وکړو، ”ولې
تهٔ هم د هغهٔ د مريدانو نه يو نهٔ يې څهٔ؟“ هغهٔ اِنکار
وکړو او وې وئيل چې، ”نه، زهٔ نهٔ يم.“ ۲۶ د مشر اِمام
يو غلام چې د هغه سړی خپلوان وو د چا نه چې
پطروس غوږ پرې کړے وو ورنه تپوس وکړو، ”ما تهٔ د


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ سره په باغ کښې نهٔ وې ليدلے څهٔ؟“ ۲۷ پطروس
بيا اِنکاری شو او چرګ په هم هغه وخت کښې بانګ
ووئيلو.

# د پيلاطوس په وړاندې د حضرت عيسیٰ پيش کېدل


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ بیا هغوئ عیسیٰ سحر وختی د کائفس د کور
نه د رومی ګورنر قلعې ته بوتلو. نو یهودیان د قلعې نه
بهر ودرېدل ځکه چې هغوئ غوښتل چې خپل ځانونه
د پلیتئ نه وساتی دې دپاره چې د فسح خوراک نه منع
نۀ کړے شی. ۲۹ نو پیلاطوس ورته بهر راووتو او تپوس
یې ترې وکړو، ”تاسو د دې سړی خلاف څۀ اِلزام
لګوئ؟“ ۳۰ هغوئ جواب ورکړو، ”کۀ دا سړے چرې
مجرم نۀ وے نو مونږ به تا له نۀ راوستو.“ ۳۱ پیلاطوس
هغوئ ته ووئیل، ”دے بوځئ او د خپل شریعت په
مطابق یې فېصله وکړئ.“ یهودیانو جواب ورکړو چې،
”مونږ ته دا اجازت نشته چې څوک مړ کړُو.“ ۳۲ او


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دغه شان د عیسیٰ هغه خبره پوره شوه چې هغه به په
کوم قسمه مرګ مړ شی. ۳۳ نو پیلاطوس واپس قلعې
ته ننوتو او عیسیٰ یې راوغوښتو او د هغۀ نه یې تپوس
وکړو چې، ”تۀ د یهودیانو بادشاه یې څۀ؟“ ۳۴ عیسیٰ
جواب ورکړو، ”دا تپوس تۀ په خپله ما نه کوې، یا کۀ
بل چا درته زما په حقله وئیلی دی؟“ ۳۵ پیلاطوس
ووئیل، ”زۀ یهودی یم څۀ؟ ستا خپل قام او مشرانو
اِمامانو تۀ ما ته په حواله کړے یې. تا څۀ کړی دی؟“
۳۶ عیسیٰ جواب ورکړو، ”زما بادشاهی د دې دُنیا
بادشاهی نۀ ده. کۀ چرې زما بادشاهی د دې دُنیا
وې، نو زما خادِمانو به د یهودیانو نه زما د بچ کولو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دپاره د هغوئ سره جنګ کړے وے. خو زما بادشاهی
د دې دُنیا نۀ ده.“ ۳۷ پیلاطوس هغۀ ته ووئیل، ”نو تۀ
بادشاه یې؟“ عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”تۀ وائې چې
زۀ بادشاه یم. آو، زۀ د دې دپاره پیدا شوے یم، او د
دې دپاره زۀ دُنیا ته راغلے یم چې د حقیقت ګواهی
ورکړم. او هر څوک چې حقیقت خوښوی هغه زما آواز
اوری.“ ۳۸ پیلاطوس هغۀ ته ووئیل، ”حقیقت څۀ
دے؟“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# په حضرت عیسیٰ د مرګ فتویٰ

دې نه پس هغه بیا یهودیانو له بهر ورووتو او هغوئ
ته يې ووئیل چې، ”ما د دهٔ خلاف هیڅ جرم پیدا نهٔ
کړو. ۳۹ خو ستاسو دا رِواج دے چې زهٔ یو قېدی د
فسح اختر په ورځ ستاسو دپاره آزادوم. ستاسو دا خوښه
ده چې زهٔ د یهودیانو بادشاه درته آزاد کړم څهٔ؟“ ۴۰
خو په جواب کښې خلقو چغې کړلې، ”نه، دا سړے


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه، خو برابا آزاد کړه.“ او برابا يو ډاکو وو.

١ بيا پيلاطوس عيسیٰ بوتلو او په کوړو يې ووهلو.
٢ او سپاهيانو د ازغو تاج جوړ کړو او هغهٔ ته يې په
سر کړو او هغهٔ ته يې کاسنی چُوغهورواغوسته. ٣
هغوئ هغهٔ له راتلل، او ورته يې وئيل، ”اے د يهوديانو
بادشاه سلامت.“ او په مخ به يې څپيړه ورکوله. ٤ يو
ځل بيا پيلاطوس بهر راوتو او يهوديانو ته يې ووئيل چې،
”وګورئ زهٔ هغه تاسو له بهر راولم چې تاسو خبر شئ
چې ما د هغهٔ خلاف هيڅ جرم ونهٔ موندلو.“ ٥ نو
عيسیٰ بهر راغلو د ازغو تاج يې په سر وو او کاسنی


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چُوغه يې اغوستې وه. پيلاطوس هغوئ ته ووئيل،
”وګورئ، دا هغه سړے دے.“ ۶ کله چې مشرانو
اِمامانو او د خُدائ د کور محافظانو هغه وليدو هغوئ
چغې کړې، ”دے په سولۍ راځوړند کړئ. دے په
سولۍ راځوړند کړئ.“ پيلاطوس هغوئ ته ووئيل چې،
”دے بوځئ او په خپله يې په سولۍ کړئ ځکه چې ما
د دهٔ خلاف هيڅ جرم ونهٔ موندلو.“ ۷ يهوديانو هغهٔ
ته جواب ورکړو چې، ”مونږ سره شريعت شته، او د هغه
شريعت په مطابق دے د مرګ لائق دے ځکه چې دهٔ
د خُدائ پاک د زوئ کېدو دعوىٰ کړې ده.“ ۸ کله
چې پيلاطوس دا واوريدل نو هغه نور زيات يرې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واخستلو. ۹ هغه خپلې قلعې ته بیا دننه شو او د
عیسیٰ نه یې تپوس وکړو چې، "تهٔ د کوم ځائ نه
راغلے یې؟" خو عیسیٰ ورته هیڅ جواب ورنهٔ کړو. ۱۰
نو پیلاطوس هغهٔ ته ووئیل، "تهٔ ما سره خبرې نهٔ کوې
څهٔ؟ تا ته دا معلومه نهٔ ده چې ما سره دا اختیار شته
چې تا آزاد کړم او دا اختیار هم راسره شته چې تا په
سولئ کړم؟" ۱۱ عیسیٰ هغهٔ ته جواب ورکړو چې،
"ستا به په ما باندې هیڅ اختیار نهٔ وے کهٔ چرې دا د
بره نه تا ته نهٔ وے درکړے شوے. په دې وجه چا چې
زهٔ تا ته په حواله کړے یم، هغه د لوئ ګناه مجرم
دے." ۱۲ د هغه ساعت نه پس پیلاطوس ډېر کوشش


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کولو چې هغه آزاد کړی خو يهوديانو چغې وهلې، ”کهٔ
تا دا سړے آزاد کړو نو تهٔ د رومی قيصر خير خواه نهٔ
يې. هر څوک چې د بادشاه کېدو دعویٰ کوی هغه د
رومی قيصر مخالفت کوی.“ ١٣ کله چې پيلاطوس دا
خبرې واورېدلې نو هغهٔ عيسیٰ بهر راوويستو او د عدالت
په کُرسۍ هغه ځائ کښېناستو چې دونکاچه ورته وائی
يا په آرامی ژبه کښې ورته ګبتا وائی. ١۴ د غرمې په
وخت کښې چې د فسح اختر د تيارولو ورځ وه،
پيلاطوس يهوديانو ته ووئيل، ”وګورئ، دا دے ستاسو
بادشاه.“ ١۵ هغوئ چغې سورې جوړې کړې، ”بو يې
ځئ، بو يې ځئ. په سولۍ يې کړه.“ پيلاطوس هغوئ


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه تپوس وکړو، ”ستاسو بادشاه په سولئ کړم څۀ؟“
مشرانو اِمامانو جواب ورکړو چې، ”زمونږ خو د قيصر نه
بغېر بل بادشاه نشته.“ ۱۶ بيا پيلاطوس عيسیٰ هغوئ
ته د سولئ کولو دپاره په حواله کړو. نو هغوئ عيسیٰ
بوتلو.

# د حضرت عيسیٰ په سولئ کول


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ او هغۀ خپله سولۍ په خپله پورته کړې وه، او
هغه بهر هغه ځائ ته لاړو چې ورته د کوپړو ځائ
وائی، او په آرامی ژبه کښې ورته ګولګتا وائی. ١٨ هلته
هغوئ هغه په سولۍ کړو او ورسره يې دوه نور هم، يو
ښی لاس ته او بل ګس لاس ته، او عيسیٰ د هغوئ په
مينځ کښې وو. ١٩ پيلاطوس په سولۍ د يوې تختې
لګولو حکم ورکړو چې پرې دا ليک وو، ”عيسیٰ
ناصری د يهوديانو بادشاه.“ ٢٠ ډېرو يهوديانو دا تختۍ
ولوستله ځکه چې هغه ځائ چې چرته عيسیٰ په سولۍ
کړے شو هغه ښار ته نزدې وو، او هغه تختۍ په آرامی،
لاطينی او يونانی ژبه کښې ليکلے شوې وه. ٢١ بيا د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهودیانو مشرانو اِمامانو پیلاطوس ته ووئیل، "دا مهٔ لیکئ
چې د یهودیانو بادشاه، بلکې داسې ولیکئ چې، دهٔ
وئیلی وُو چې زهٔ په خپله د یهودیانو بادشاه یم." ۲۲
پیلاطوس جواب ورکړو، "نه، د کومو لیکلو چې ما
حکم ورکړے دے هغه ټیک دے." ۲۳ کله چې
سپاهیانو عیسیٰ په سولۍ کړو، هغوئ د هغهٔ جامې
راواخستې او په څلورو برخو یې تقسیم کړې، د هر یو
سپاهی دپاره یوه برخه، او چُوغه یې روغه پرېښوده.
ځکه چُوغه لا ګنډلې شوې نهٔ وه او د سر نه تر ښکته
پورې ټوله د یوې ټوټې وه. ۲۴ نو هغوئ یو بل ته ووئیل،
"مونږ ته دا څیرې کول نهٔ دی په کار، راځئ چې پرې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پچه واچوو، وبه ګورو چې د چا رسيږی.“ دغه شان د
صحيفې ليک پوره شو چې، ”هغوئ زما جامې په خپلو
کښې تقسيم کړې او زما په چُوغه يې پچه واچوله.“
هم دغه شان سپاهيانو وکړل. ۲۵ خو د عيسیٰ د سولۍ
سره نزدې د هغهٔ مور او ترور او د کلوپاس ښځه مريم او
مريم مګدلينی ولاړې وې. ۲۶ کله چې عيسیٰ خپله
مور د خپل خوږ مريد سره په خوا کښې ولاړه وليده
عيسیٰ هغې ته وفرمائيل، ”مورې، دا ستا زوئ دے.“
۲۷ هغهٔ بيا مريد ته وفرمائيل، ”دغه ستا مور ده.“ د
هغه وخت نه پس هغه مريد هغه خپل کور ته بوتله.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ

# مرګ

۲۸ د دې نه پس عیسیٰ چې پوهه شو چې هر څۀ
پوره شوی دی نو هغۀ وفرمائيل، ”زۀ ترږے يم.“ او دې
سره د صحيفې يوه پېشګوئي پوره شوه. ۲۹ هلته يو
لوښے د تروې سرکې نه ډک پروت وو. نو هغوئ يو
اسفنج په کښې لوند کړو او د ويلنې په څانګه يې
کېښودو او دا يې د عیسیٰ شونډو ته ورورسولو. ۳۰ کله


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې سرکه عیسیٰ ته ورکړے شوه نو هغۀ وفرمائيل چې،
”دا کار پوره شو.“ بیا يې سر ټيټ کړو او ساه يې
ورکړه.

# د حضرت عیسیٰ پوښتۍ په نیزه وهل

۳۱ اوس دا د فسح دپاره د تیارئ کولو د جمعې
ورځ وه او راتلونکې ورځ د خاص سبت وه. په دې وجه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

يهوديانو نهٔ غوښتل چې د سبت په ورځ دې مړی په
سولئ پاتې شی، نو هغوئ پيلاطوس ته خواست وکړو
چې د دوئ پښې دې ماتې کړے شی او مړی دې
راکوز کړے شی. ۳۲ نو سپاهيان راغلل او د اولنی
سړی پښې يې ماتې کړې او بيا يې د هغه بل سړی
پښې ماتې کړې چې عيسیٰ سره په سولئ شوی وُو.
۳۳ خو کله چې هغوئ عيسیٰ له راغلل او وې ليدو
چې هغه د اول نه مړ دے، نو هغوئ د هغهٔ پښې ماتې
نهٔ کړې. ۳۴ خو د دې باوجود يو سپاهی د هغهٔ پوښتئ
په نيزه ووهله او سمدستی ترې د وينو او اوبو دارې
روانې شوې. ۳۵ هغه سړی چې دا وکتل هغهٔ ګواهی


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړه او د هغهٔ ګواهی رښتيا ده. هغه رښتيا خبرې کوی
د دې دپاره چې تاسو هم ايمان راوړئ. (۳۶) دا کارونه
وشول نو چې د صحيفې وينا پوره شی چې، "د هغهٔ يو
هډوکے به هم مات نهٔ کړے شی." (۳۷) او بيا په يو بل
آيت کښې راغلی دی چې، "هغوئ به هغه سړی ته
ګوری چې په نېزه يې سورے کړو."


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ ښخېدل

۳۸ د هغې نه پس یوسف چې د ارمتیه وو د
پیلاطوس نه د عیسیٰ د مړی وړلو خواست وکړو. یوسف
د عیسیٰ مرید وو خو په پټه ځکه چې هغه د یهودیانو
نه یرېدو. د پیلاطوس په اجازت سره هغه راغلو او د
هغهٔ مړے یې یوړو. ۳۹ د هغهٔ سره نیکودیموس نومې
سړے هم ملګرے شو څوک چې عیسیٰ له د شپې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورغلي وو، او نيکوديموس تقريباً د پنځوس سېره د مُر
چيړ سره د عُودو ګډه کړې راوړل. (۴۰) هغوئ دواړو د
عيسیٰ لاش واخستو او د يهوديانو د ښخولو د رِواج په
مطابق يې خوشبودار د کتان کفن کښې ونغښتو. (۴۱)
په کوم ځائ کښې چې عيسیٰ په سولۍ کړے شوے
وو هلته کښې يو باغ وو او په باغ کښې دننه يو نوے
قبر وو چې د دې نه وړاندې په کښې لا څوک ښخ
شوې نۀ وُو. (۴۲) ځکه چې دا د يهوديانو د فسح د
تيارۍ ورځ وه او دا قبر د هغه ځائ سره نزدې وو نو
هغوئ عيسیٰ په دې کښې کېښودو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عيسیٰ بيا ژوندی کېدل

١ د اِتوار په ورځ سحر وختی چې لا توره خړه وه
مريم مګدلينی قبر له لاړه او وې کتل چې د غار د
خولې نه کاڼے لرې کړے شوے وو. ٢ نو هغه په
منډه شمعون پطروس او هغه بل مريد له راغله چا سره
چې عيسیٰ مينه کوله او ورته يې ووئيل چې، ”هغوئ
مالِک د قبر نه وړے دے، او مونږ ته دا پته نشته چې


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کوم ځائ هغوئ د هغهٔ لاش ښخ کړے دے.“ ۳ نو
پطروس او هغه بل مرید راووتل او قبر طرف ته روان
شول. ۴ هغوئ دواړو یو ځائ منډې وهلې خو هغه
بل مرید د پطروس نه مخکښې شو او قبر ته وړاندې
ورسېدو. ۵ هغهٔ سر ټیټ کړو او دننه یې وکتل چې د
کتان کفن هلته پروت وو خو دننه ورنهٔغلو. ۶ بیا
شمعون پطروس چې په هغهٔ پسې وو راورسېدو او غار ته
ورننوتو. د کتان هغه کفن یې هلته پروت ولیدو ۷ او
هغه رومال چې د عیسیٰ سر یې پرې تړلے وو د کتان د
کفن سره نهٔ وو بلکې ځان له جدا انغښتے شوے په یو
بل ځائ کښې پروت وو. ۸ بیا هغه بل مرید ښوک


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې قبر ته مخکښې رسېدلے وو هغه هم قبر ته ورننوتو
او وې لیدل او یقین یې پرې وکړو. ۹ نو اوس هم
هغوئ د صحیفو په مطلب پوهه نۀ وُو چې عیسیٰ به
خامخا د مړو نه بیا ژوندے پاځی.

# د حضرت عیسیٰ مریم مګدلینی ته


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# څرګندېدل

١٠ نو مريدان واپس خپلو کورونو ته لاړل. ١١ خو
مريم د قبر نه بهر ولاړه وه او ژړل يې. او په ژړا کښې
هغه ورټيټه شوه چې غار کښې دننه وګورى. ١٢ او هغې
هلته دوه فرښتې په سپينو جامو کښې د لاش په ځائ
ناستې وليدې، يوه سر ته او بله پښو ته، په هغه ځائ
کښې چرته چې د عيسىٰ لاش کېښودے شوے وو.
١٣ هغوئ د هغې نه تپوس وکړو چې، "اے خورې، تهٔ
ولې ژاړې؟" هغې جواب ورکړو چې، "هغوئ زما مالِک


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چرته اوړے دے او ما ته پته نشته چې هغه يې کوم

ځائ ښخ کړے دے.“ ۱۴ د دې خبرو نه پس هغې

مخ راواړولو او عيسىٰ يې هلته ولاړ وليدو، خو هغې ونۀ

پېژندلو چې دا عيسىٰ دے. ۱۵ عيسىٰ هغې ته

وفرمائيل، ”اے خورې، تۀ ولې ژاړې؟ تۀ څوک لټوې؟“

هغې دا خيال وکړو چې دا د دې باغ مالى دے، نو

ورته يې ووئيل، ”صاحبه، کۀ چرې تا هغه د دې ځائ

نه وړے وى نو ما ته ووايه چې هغه دې کوم ځائ ښخ

کړے دے، او زۀ به هغه يوسم.“ ۱۶ عيسىٰ هغې ته

وفرمائيل، ”مريمې.“ هغې هغۀ ته مخ وروا ړولو او په

آرامى ژبه کښې يې وئيل، ”ربونى.“ چې مطلب يې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اُستاذ دے. ۱۷ عیسیٰ هغې ته وفرمائیل، "ګوره چې ما
ته لاس رانۀ وړې ځکه چې زۀ لا خپل پلار ته نۀ یم
ورغلے. خو زما وروڼو له لاړه شه او هغوئ ته ووایه چې
زۀ خپل پلار له او ستاسو پلار له، خپل خُدائ پاک له
او ستاسو خُدائ پاک له پاس ځم." ۱۸ مریم مګدلینې
مریدانو له لاړه او وې وئیل چې، "ما مالِک ولیدو." او
هغې هغوئ ته د هغه هر څۀ حال ووئیلو څۀ چې
عیسیٰ ورته فرمائیلی وُو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عیسیٰ مریدانو ته ښکاره کېدل

۱۹ د پیر په شپه چې مریدانو د یهودیانو د یرې نه
دروازې بندې کړې وې ناست وُو، چې په دې کښې
عیسیٰ راغلو، د هغوئ په مینځ کښې ودرېدو او ورته یې
وفرمائیل، ”السلام علیکم.“ ۲۰ د دې نه پس هغهٔ
هغوئ ته خپل لاسونه او خپله پښتئ وښودله. نو چې
کله مریدانو مالِک ولیدو نو هغوئ ډېر خوشحاله شُو.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ عیسیٰ یو ځل بیا وفرمائیل چې، ”په تاسو دې
سلامتیا وی، څنګه چې پلار زهٔ رالیږلے یم هم دغسې
زهٔ تاسو لیږم.“ ۲۲ بیا یې په هغوئ وپوکل او وې
فرمائیل، ”زما له خوا نه روحُ القُدس قبول کړئ. ۲۳ کهٔ
چرې تاسو د چا ګناهونه وبخښئ نو هغوئ به وبخښلے
شی، او کهٔ تاسو هغوئ ونهٔ بخښئ نو هغوئ به ونهٔ
بخښلے شی.“

# حضرت عیسیٰ او توما


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ په دولسو مريدانو کښې يو توما چې برغونړے هم
بللے شی کله چې عيسیٰ راغلے هغه د نورو سره موجود
نۀ وو. ۲۵ نو نورو مريدانو هغۀ ته ووئيل چې، ”مونږ
مالِک وليدلو.“ خو توما هغوئ ته ووئيل چې، ”ترڅو
چې ما د هغۀ په لاس کښې د مېخونو زخمونه ليدلی نۀ
وی او د مېخونو په زخمونو مې ګوتې وهلې نۀ وی، او
خپل لاس مې د هغۀ په پښتیٖ نۀ وی لګولے نو زۀ به په
دې هيڅکله يقين ونۀ کړم.“ ۲۶ اتۀ ورځې پس د هغۀ
مريدان بيا په هماغه کور کښې دننه راجمع وُو او توما
هم د هغوئ سره موجود وو. اګر کۀ دروازې تالا وې
خو عيسیٰ راغلو د هغوئ په مينځ کښې ودرېدو او وې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائيل، ”په تاسو دې سلامتيا وی.“ ۲۷ بيا هغهٔ توما
ته وفرمائيل، ”خپلې ګوتې دلته کېږده او زما لاسونه
ووينه او خپل لاس راوړاندې کړه او زما په پښتی کې
ولګوه. نور شک مهٔ کوه خو يقين کوه.“ ۲۸ توما هغهٔ
ته ووئيل، ”زما مالِکه او زما خُدايه پاکه.“ ۲۹ عيسىٰ
هغهٔ ته وفرمائيل، ”په دې چې تا زهٔ وليدم نو ايمان دې
راوړو. بختور دی هغوئ چا چې زهٔ نهٔ يم ليدلے او
ايمان يې راوړے دے.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د دې کِتاب مقصد

۳۰ عیسیٰ د خپلو مریدانو په موجودګۍ کښې نورې
هم ډېرې معجزې څرګندې کړې دی، کومې چې په
دې کِتاب کښې نۀ دی لیکلے شوې. ۳۱ خو دا یو
څو معجزې ځکه لیکلے شوې دی چې تاسو په دې
ایمان راوړئ چې عیسیٰ هم مسیح، یعنې د خُدائ
پاک زوئ دے، او چې د ایمان راوړلو په وسیله تاسو ته
د هغۀ په نوم ژوندون مِلاو شی.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت عيسیٰ اووۀ مريدانو ته څرګنديدل

١ څۀ موده پس عيسیٰ بيا د ګليل د درياب په
غاړه مريدانو ته خپل ځان څرګند کړو. هغه په دې
طريقه څرګند شو. ٢ شمعون پطروس او توما چې
غبرګونړے هم بللے کيږی او نتنی‌ايل چې د ګليل د قانا
وو او د زبدی زامن، او دوه نور مريدان هم هلته موجود
وو. ٣ شمعون پطروس هغوئ ته ووئيل، ”زۀ د کبانو


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښکار له ځم.“ نو هغوئ ورته ووئيل چې، ”مونږ به هم
درسره ځو.“ هغوئ روان شول او کشتۍ ته وختل خو په
هغه شپه هغوئ هيڅ ونۀ نيول. ۴ چې سحر شو نو
عيسىٰ د درياب په غاړه ولاړ وو خو مريدانو ته دا پته نۀ
وه چې دا عيسىٰ دے. ۵ عيسىٰ هغوئ ته نعرې
کړې، ”اے دوستانو، تاسو څۀ کبان ونيول کۀ نه؟“
هغوئ جواب ورکړو چې، ”نه.“ ۶ هغوئ ته يې
وفرمائيل، ”د کِشتۍ ښى طرف ته جال وولئ نو تاسو به
څۀ کبان ونيسئ.“ کله چې هغوئ جال وغورزولو نو
هغوئ جال کِشتۍ ته نۀ شو راخېژولے ځکه چې په
هغې کښې ډېر زيات کبان راګير شوى وُو. ۷ بيا هغه


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مرید چې عیسیٰ ورسره مینه کوله پطروس ته ووئیل، ”دا
خو مالِک دے.“ کله چې شمعون پطروس دا واورېدل
چې دا مالِک دے نو هغهٔ زر خپل قمیص واچولو ځکه
چې هغهٔ خپل قمیص کوز کړے وو او دریاب ته یې
ودانګل. ۸ خو نور مریدان په کِشتئ کښې راغلل او د
کبانو ډک جال یې راښکو ځکه چې هغوئ د وچې
زمکې نه لرې نهٔ وُو خو تقریباً یو سل ګزه به وراخوا وُو.
۹ کله چې هغوئ غاړې ته راوختل نو هغوئ د سکرو
اور ولیدو چې دپاسه پرې کبان او لږه روټئ پرته وه. ۱۰
عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل چې، ”د خپلو هغه کبانو نه
چې اوس مو ونیول څهٔ راوړئ.“ ۱۱ نو شمعون پطروس


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کِشتۍ ته ورغلو او جال يې زمکې ته راښکلو چې د غټو
کبانو نه ډک وو، او دا يو سل درې پنځوس وُو، او سره
د دې چې دومره زيات وُو خو بيا هم جال ونۀ شلېدلو.
١٢ عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل، ”راشئ او ناشته وکړئ.“
په مريدانو کښې يو کس هم دا همت ونۀ کړو چې
تپوس ترې وکړی چې، ”تۀ څوک يې؟“ ځکه چې
هغوئ ته دا پته وه چې دا مالِک دے. ١٣ عيسیٰ
راغلو، او روټۍ يې واخسته او هغوئ له يې ورکړه او هم
دغه شان يې کبان هم تقسيم کړل. ١٤ اوس دا دريم
ځل وو چې عيسیٰ د مړو نه د ژوندی کېدو نه وروستو
مريدانو ته ځان ښکاره کړو.


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ او پطروس

۱۵ د ناشتې نه پس عیسیٰ شمعون پطروس ته
وفرمائیل، ”شمعونه د یوحنا زویه، ته د نورو ټولو نه ما
سره زیاته مینه کوې څهٔ؟“ هغهٔ جواب ورکړو چې، ”آو
مالِکه، تا ته پته ده چې زهٔ تا سره مینه کوم.“ عیسیٰ
هغهٔ ته وفرمائیل چې، ”نو بیا زما ګډورې وڅروه.“ ۱۶
په دویم ځل هغهٔ ورته وفرمائیل چې، ”شمعون د یوحنا


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زویه، ته ما سره مینه کوې؟“ پطروس ورته ووئیل، ”آو،
مالِکه، تا ته ښۀ پته ده چې زۀ تا سره مینه کوم.“
عیسیٰ ورته وفرمائیل، ”نو بیا زما ګډې سمبالې کړه.“
١٧ په درېم ځل عیسیٰ هغۀ ته وفرمائیل چې، ”شمعون
د یوحنا زویه، ته ما سره مینه کوې؟“ پطروس په دې
خبره غمژن شو ځکه چې هغۀ ترې په درېم ځل دا
تپوس وکړو چې، ”ته ما سره مینه کوې؟“ هغۀ ووئیل،
”مالِکه، تا ته د هر څۀ ښۀ پته ده. ته په دې پوهېږې
چې زۀ تا سره مینه کوم.“ عیسیٰ وفرمائیل، ”زما ګډې
وڅروه. ١٨ زۀ تا ته رښتیا وایم چې کله چې ته ځوان
وې نو تا به خپله ملا په خپله تړله او چرته چې به دې


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوښه وه هلته به تللې، خو کله چې ته زوړ شې نو ته
به خپل لاسونه خوارۀ کړې او بل څوک به دې ملا
وتړی او هغه خوا ته به دې بوځی چرته چې ته تلل نۀ
غواړې.“ ۱۹ عيسیٰ دا خبره د دې راز څرګندولو دپاره
وکړه چې پطروس به په دغه شان شهيد کړے شی چې
د خُدائ پاک جلال به په کښې څرګند شی. بيا
عيسیٰ هغۀ ته وفرمائيل چې، ”ما پسې راځه.“


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عیسیٰ او د هغهٔ خوږ مرید

٢٠ پطروس راوګرځېدو او هغه مريد يې په ځان پسې
راروان وليدلو د چا سره چې عيسیٰ مينه کوله، هغه چې
د ماښام د روټۍ په وخت کښې عيسیٰ سره نزدې
ناست وو او دا تپوس يې ترېنه کړے وو چې، ”مالِکه،
هغه څوک دے چې په تا به مُخبری کوی؟“ ٢١ کله
چې پطروس هغه وليدو نو د عيسیٰ نه يې تپوس وکړو،


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

”مالِکه، د هغۀ اَنجام به څۀ وی؟“ ۲۲ عیسیٰ جواب
ورکړو، ”کۀ زۀ وغواړم چې هغه دې تر هغې ژوندے
پاتې شی ترڅو چې زۀ بیا راشم نو ستا په دې کښې
څۀ؟ تۀ ما پسې راځه.“ ۲۳ په دې وجه د ایماندارانو
په مینځ کښې دا خبره خوره شوه چې دا مرید به نۀ
مری. خو عیسیٰ دا نۀ وُو فرمائیلی چې هغه به نۀ مری،
هغۀ صرف وفرمائیل، ”کۀ زۀ وغواړم چې هغه دې تر
هغې ژوندے پاتې شی ترڅو چې زۀ بیا راشم، نو ستا په
دې کښې څۀ؟“ ۲۴ دا هغه مرید دے چې د دې هر
څۀ ګواهی کوی او دا یې ولیکل. مونږ ته پته ده چې د
هغۀ ګواهی رښتیا ده. ۲۵ خو نور هم ډېر کارونه دی


Copyrighted material from pashtobibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې عيسىٰ کړی وُو، کهٔ چرې دا ټول ليکلے شوے وے نو زما دا خيال دے چې په ټوله دُنيا کښې به د هغه ليکلے شوو کتابونو ځائ نهٔ وے.